Made with Xodo PDF Reader and Editor

RAHMANI LIBRARY
رحماني کتابتون



# مئین پیغمبر

د خلیل جبران او ماري هسکل مینه لیکونه

اقتباس او راټولونه: پائیلو کوئیلو

ژباړن: میراحمد یاد

Made with Xodo PDF Reader and Editor

بسم الله الرحمن الرحيم


رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون

په سرچ سره هم پیدا کولای شئ ملګرو .!

Rahmani library

رحماني کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# مئين پيغمبر

(د خليل جبران او ماري هسکل مينه ليکونه)

اقتباس او راټولونه : پائلو کوئيلو

ژباړه : مير احمد ياد

Made with Xodo PDF Reader and Editor

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب نوم: منین پیغمبر

اقتباس او راټولونه: پائلو کوئیلو

ژباړه: میر احمد یاد

ډیزاین چارې: ثناءالله خواب

خپرندوی: مازیګر کتاب پلورنځی

چاپ کال: ۱۳۹۶ل / ۲۰۱۷م

چاپشمېر: ۱۰۰۰

خپرونو لړ: (۴۹)

د چاپ حقوق خوندي دي

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# ډالۍ!

# خوشبو ته!

Made with Xodo PDF Reader and Editor

# د ژباړن سریزه

پښتو کې د لیکونو لېږل او بیا چاپ دومره ډېر مشهور نه دي، د جبران او ماري هسکل دا لیکونه مې په دې نیت نه وو ژباړلي چې ګنې چاپ به هم شي، بس چې له نورو ژباړو به ستړی شوم دا به مې لوستل او د دمې لپاره به مې ژباړل، بنایي د لیکونو په اړه زما درک ډېر قوي او ژور نه وي، خو ما خپله هڅه کړې او له زړه مې کړې ده.

دا چې لیکونه له انګلیسي فارسي او بیا پښتو ته راغلي، بنایي له اصلي هغوی سره یې ژبه یو څه توپیر ولري، په لومړیو کې مې هڅه کړې چې ډېر امانتکاره و اوسم، خو وروسته مې بیا ژباړه لږه ازاده کړې؛ نو که لوستونکي توپیر احساسوي لامل به یې دا وي. بله دا چې لیکونه بشپړ نه دي راخیستل شوي او اقتباس ترې شوی دی، که د لیکونو ژبه درنه وي، وجه دا ده چې موضوع پکې پوره نه ده راخیستل شوې، هغوی چې جبران نه وي لوستی دا لیکونه ورته بنایي یو څه درانه وي، ځکه په دې کې زیاتره د جبران په اثارو او فکر بحثونه شوي دي.

د مازیګر خپرندویه ټولنې له قدرمن مشر او ملګري عزت الله ځواب صیب نه هم مننه کوم، چې ددې کتاب چاپ ته یې زړه ښه کړ، زه بیا هم وایم چې که ځواب صیب ددې کتاب د چاپ سینه نه وی ډبولی؛ نو ما به دا کتاب نه وی چاپ کړی.

د مازیګر لمر دې نه پرېوځي!

میر احمد یاد

Made with Xodo PDF Reader and Editor

زما ګرانه وروره او ګرانې خورې ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې ..!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګرې ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وې خو ډېر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وې ، خو که دغه کیسه برعکس وې او ستا
ملګرې ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې ..!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند ښکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو ..!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وې ..!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله ..!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ
سره وصل شئ ،او بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ..!

JOIN

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## جنوري ۱۹۰۹

زړه ته رانږدې ماري، پلار مې مړ شو، په هماغه کور کې مړ شو چې پنځه شپېته کاله مخکې پکې زېږېدلی و. دوستانو یې راته ولیکل: له دې مخکې چې سترګې یې په ابدي خوب پټې شي، ماته یې د مغفرت دعا وکړه.

ډاډه یم چې پلار مې دا دی اوس د پروردګار په غېږه کې پروت دی، خو دې سره یې د بېلتانه غم او خفګان نه شم هېرولای. په خپل سر د یوه مړي لاس احساسوم او د خپلې مور، ورېې خور او ورور په اړه فکر کوم. اوس هېڅوک نشته چې د لمر رڼا ته موسکي شي: چېرته دي؟ آیا په هغه نابلده ځای کې به بیا لمر وګوري؟ آیا کولای شي چې مورې غوندې، تېر وخت رایاد کړي؟

ځه ساده یم چې دا پوښتنې کوم؛ ښه پوهېږم چې هغوی د اسمان په کوم ځای کې اوسېږي او له موږه خدای ته ډېر نږدې دي. اوس د هغوی د سترګو پر وړاندې هغه اوه پردې نشته چې د انسان او خدای تر منځ واقع دي، اوس زما خواږه مجبور نه دي، چې ثابتې او حقیقې رڼا ته د شک په سترګه وګوري، خو دې سره بیا هم، هماغسې خفه او غمجن یم.

اوس مې د زړه سود یوازې په تا شي. که ځه هم ته د نړۍ د هغه بلې ځنډې په هغه ځای کې مېشته یې چې په هاوایي مشهور دی، ستاسو یوه ورځ د پاریس له ۵۴ شپو سره برابره ده، خو بیا هم چې په لاره روان یم، نو ته مې تر ځنګ یې؛ چې کار کوم ته راسره خبرې کوې او کله چې فکر کوم یوازیتوب مې ګنې خوري، همدې وخت کې مې په خوا کې ستا د حضور ځرک وځلېږي. دا هغه شېبې دي چې پوهېږو زموږ او هغوی تر منځ هېڅ فاصله نشته، چې مینه ورسره لرو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱۶ مئ ۱۹۱۱

په لويو ښارونو کې چې نابلده يم، نو زړه مې غواړي چې په بېلابېلو خونو کې ويده شم، بېلابېلو ځايونو کې ډوډۍ وخورم، په نابلدو لارو قدمونه واخلم او د نابلده خلکو د تګ راتګ ننداره وکړم. يوازې مساپر مې خوښېږي.

***

## ۳۱ اکتوبر ۱۹۱۱

ماري، زړه ته رانږدې ماري، ټوله ورځ مې کار کړی دی، خو دا نشم کولای چې تاته له (ښه شپې) ويلو مخکې خپلې بسترې ته لاړ شم. ستا وروستی ليک اور وروي. هغه وزر لرونکی آس دی چې ما په خپله ملا سپروي او يوې جزيرې ته مې وړي، هغه جزيره چې يوازې نابلدې سندرې يې اورم، خو يوه ورځ به يې وپېژنم. ورځې مې له دغو غږونو، منظرو او سيورو ډکې دي، په زړه او لاسونو کې مې يو اور هم شته، دغه قوت بايد ماته، تاته او هغو ته په نيکۍ واوړي چې مينه ورسره لري.
ته هغه پېژنې چې په ستر نغري کې سوځي او لولپه کېږي؟ او ته پوهېږې چې دا لمبه ټول ناولي وجودونه ايره کوي او يوازې هغه په اروا کې پرېږدي چې سم وي؟
اه، له دې اوره بل برکتي شی نشته.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱۰ نومبر ۱۹۱۱

يوه پخواني عربي سندره داسې پيلېږي: (زما په زړه چې څه تېرېږي، زه او خداى پوهېږو). تا چې راته څه ليکلي له هغې وروسته نن دا سندره داسې غځولاى شم: (زما په زړه چې څه تيرېږي، زه ماري او خداى پوهېږو). زړه مې غواړي چې سينه مې وڅېرم، زړه مې راوباسم او په لپه کې يې ونيسم، چې ټول خلک يې وګوري. څکه انسان چې ځان خپل ځانته ښکاره کوي؛ نو تر دې بله لويه هيله نه لري چې نور دې يې درک کړي. مور ټول د هغې رڼا ليدو ته ليواله يو چې د دروازې تر شا ده، زړه مو غواړي چې دا رڼا د کوټې منځ او د ټولو مخې ته راشي.

د نړۍ لومړى شاعر به ډېر ځوريدلى وي، چې غشى او لينده يې يوه څنګ ته ايښي او غوښتل يې ملګرو ته يې هغه څه وستايي چې د لمر ډوبيدو پر مهال يې خپله حس کړي دي، سره له دې چې پوهېده ملګري به يې دده په خبرو ملنډې ووهي، خو بيا به يې هم دا هڅه کړې وي، څکه حقيقي هنر غواړي چې هنرمند يې د ښکاره کولو هڅې وکړي. هېڅوک نه شي کولاى په يوازې ځان له درک کړي ښايسته خوند واخلي.

نو څکه ژوند، په مور دواړو کې چې د مطلق په لټه يو او د خپل مطلق د يوازيتوب لپاره باغ جوړوو؛ يو ژور شور پيدا کوي، چې په ټول وجود يې له هرې شيبې خوند واخلو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲٦ نومبر ۱۹۱۱

گرانې ماري، رښتيا هم چې د الهي رحمت ورځ را ورسېده، ځکه ته دلته، دې کور ته راغې! فکر مې وکړ، چې خپله دې راوبلم. خو زه له انکاره وېرېدم، نو شارلوټ ته مې وويل چې دا کار راته وکړي، راته يې وويل چې تا مېلمستيا ته د راتلو بلنه منلې او راغې.

نو په دې ورځو کې يوازې د کور په منظمولو بوخت يم، شيان مې ځای پر ځای کړل، خو پر دې سربېره، مې هغه لرغوني (عتيقه) شيان هم پاک راپاک کړل، چې زما په زړه او ذهن کې يې ځای درلود، دا ټول مې له هغو تيارو راخلاص کړل چې نور بايد پکې پراته نه وای.

کېدای شي دا بېلتون يو څه ګټور وي چې له بدې ورځې يې زغمم؛ ډېر لوی شيان يوازې له ليرې ځايه ليدل کېدای شي.

***

## ۷ فيبروري ۱۹۱۲

نن مې زړه ارام دی، خوښۍ او هوساينې مې په زړه کې د هميشنيو انديښنو ځای نيولی دی، بيګا مې عيسی په خوب کې وليد.

هماغه مهربانه څېره، هماغه تورې سترګې چې وړانګې ترې خيژي او مخامخ ځير دي، هماغه په خاورو خړې ښپې، هماغه وراسته پېزار. د روح قوي حضور يې، په داسې ارامۍ چې پوهېږي ژوند ته څنګه مخامخ وګوري او په هر څه څنګه برلاسی شي.

اه ګرانې ماري، ولې هره شپه عيسی په خوب کې نه شم ليدی؟ ولې په هماغه آرامۍ خپل ژوند ته نه شم کتلای چې هغه يې خوب کې راته راکوي؟ ولې په دې ځمکه داسې څوک نه شم ليدی چې د هغه په څېر ساده او مهربانه وي؟

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۱۰ مارچ ۱۹۱۲

ماري، خوږې ماري، ستا دې په خدای قسم وي، ته دا فکر کولای شي چې له تا مې تر خوښۍ لا درد ډېر لیدلی؟ څه لامل شو چې ته داسې فکر کوې؟ هېڅ څوک نه پوهېږي چې د خوښۍ او درد تر منځ پوله کوم ځای کې ده؛ زیاتره فکر کوو چې یو له بله یې بېلتون ناشونی دی.

ماري، ته ماته دومره خوښي راکوې چې ژړا راولي او دومره درد راکوې چې په کټ کټ مې خندوي.

***

## ۱۴ اگست ۱۹۱۲

ماري، په توپان کې څه دي چې ما داسې په خوځښت راولي؟ ولې د توپان پر وخت، یو څه ښه، قوي او له ژونده ډاډه یم؟ نه پوهېږم، خو په طبیعت کې له توپان سره تر بل هر څه... هر څه ډېره زیاته مینه لرم.

***

## ۲۲ اکتوبر ۱۹۱۲

ماري، تر ټولو په زړه پورې دا ده چې زه او ته دواړه یو ځای په هغه ځمکه قدمونه واخلو؛ چې نور خلک ورسره نابلده دي. دواړه خپل لاسونه اوږدوو چې له ژونده خپله برخه گټه واخلو، ژوند رښتیا هم ډېر سخي دی.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۵ دسمبر ۱۹۱۲ (د ماري له یادښتونو)

ماري، زه دا نشم کولای چې یو ساتکار، یو سات خوب او یو سات ورزش پلان کړم. ما اوریدلي چې ټول خلک کولای شي هره ورځ په ټاکلي وخت راویښ شي، چای وڅښي، د خوب بسترې ته لاړ شي او له دې نظمه خوشاله هم دي.

خو زه فکر کوم چې دا خلک تل هماغه یوه ورځ ژوند کوي.

که وکولای شو چې د یوه انسان په زړه کې ورته یوه نوې خنده روښانه کړو، ژوند مو بې ګټې نه دی. اصلي موضوع خپله ژوند دی؛ نه مینه او درد یا خفګان او خوشالي. کرکه د مینې هومره ښه ده، دښمن ښه دوست کیدای شي. ځان ته ژوند وکړه، خپل ژوند وکړه، بیا به په ربښتیا د یوه انسان ملګری شې.

زه دې ته اړتیا لرم، چې شیان باید پېښېدو ته پرېږدم؛ نو هرې ناڅاپي پېښې ته باید تیار یو. ماته هره ورځ نوې وي، که د اتیا کالو شم بیا به هم نوې تجربې کوم او بدلېږم به. چې بوډا شم په کړو کارونو فکر نه کوم، بیا نو وخت تېر دی، زه غواړم د پاتې ژوند له هرې شېبې ګټه واخلم.

خو مهمه مسایلو ته نه؛ چې یوازې کولای شي وړو کارونو ته پلان جوړ کړي، هغوی چې مهمو کارونو ته پلان جوړوي، له هر څه واړه مسایل جوړوي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۹ دسمبر ۱۹۱۲

**(د ماري له یادښتونو- جبران ته د ماري لیک)**

د هغه مینه خپله د طبیعت غونډې ارامــوونکې ده. انسان تـه هـېڅ معیار نـه ټاکي، هېڅ شی ورته نه ټاکي، د انسان د وجود حقیقت په اسانۍ منـي، عیناً لکه طبیعت. زه ریښتوني یـم، هغـه هـم دی: دا دواړه رښتینولی یـو بـل سره مینه لري، بس همدا !

***

## مئ ۱٦ ۱۹۱۳

انسان کولای شي، چې بې لویوالي خپلواک وي؛ خو هېڅـوک نـه شي کولای چې بې خپلواکۍ لوی شي.

***

## ۳۰ اکتوبر ۱۹۱۳

ولې راته خپلې ټولې خبرې تشریح کوې؟ زما زړه تـر دې پـه لوړو مینـه نـاکو کلیمو پوهېږي. ولې زما په درک باور نه لرې؟

او هیله کـوم، هیلـه کـوم، دا فکـر مـه کـوه چـې مئـین ګنـې دومـره پـه اسانه ځورېږي. له فولادو جوړه چاړه مې غوښنه پرې کولای شي، خـو لـه مـوم جـوړه یـې نـه شي. ترخـې خـبرې او حرکـات بـه مـې پـه ډېـره سـختۍ سـتا پـه اړه احساساتو کې احتیاط ته اړباسي.

زما او ستا په مقابله کې هر یو سطحي شی بـه خپلـه ورک شي، پوهـه شـه او درک کړه! خلیل هغه وله نه ده چې دا باد یې ورپوي.

زه صرف نـیم دلتـه پـه بوسـټن کـې یـم، زړه مـې غـواړي چـې د نیویـارک پـه اورګاډي کې سپور شم او په خپلو سترګو دې ووینم. ته خـبرو او حتـی خنـدلو

Made with Xodo PDF Reader and Editor


ته اړتيا نه لرې، يوازې ستا په خوا کې اوسېدل راته د يوه پوره انسان احساس راکوي.

***

## ۱۰ جنوري ۱۹۱۴ (د ماري له يادښتونو)

نن يې وويل: (ماري، غواړم تاته يوازې يوه شنه گياه شم، چې باد يې وښوري او د هماغې شېبې له شور سره همغږې سندره ووايي، همداسې کوم.)

***

## ۱ مارچ ۱۹۱۴

زياتره وخت خان د يوه غره په څوکه هستوگن احساسوم، داسې خای چې ساړه پکې نه وي، خو د نړۍ تر ټولو توپاني سيمه وي. داسې خای به وي؟ که وي يوه ورځ به ورځم او له خپل ټول زړه نه به پکې شاعري او نقاشي جوړوم.

***

## ۵ اپريل ۱۹۱۴

ماري گرانې، له ډېرې مودې چوپ پاتې يم، کار کوم او ډېر ويده کېږم، فکر کوم دا ډېر کار مې هم د خوب غوندې له خبرو کولو غورځوي.
ماري، هر څومره کلونه چې تېرېږي، راکې شته يوازيتوب لا پسې ډېر څرگندېږي. ژوند تلپاتې ننداره ده، د هغو ټولو امکاناتو او ادراکونو ليدل دي چې مينه يې پر موږ راوړي، خو بيا هم خلک ددې ساده حقيقت پر وړاندې ډېر بې وسه پاتې کېږي او دا کار مې له هغوی ليرې کوي.
ژوند سخي دی او انسان بخيل. لکه د انسان او ژوند ترمنځ چې کوم ژور

Made with Xodo PDF Reader and Editor


ګړنګ وي او له دې ګړنګه تېرېدو، د خپلې اروا لمس کولو او ويښولو ته لکه چې کومه زړورتيا په کار وي. آيا حسرت سزا ده؟

دلته په نيويارک کې مې يوازې عادي، مودب او باسواده خلک ليدلي، دوی د جنت - دوزخ او هرڅه - هېڅ تر منځه په برزخ کې دي، لکه چې جدي يې نه ګڼي، خو ښه چلند کوي، هر چاسره چې ګوري، په شونډو يې موسکا خپره وي.

***

## ۲۶ اپريل ۱۹۱۴ (د ماري له يادښتونو)

ستا د پيسو په اخيستو مې تل خجالت کاوه، ځان به مې پوښته چې دا ښه کار دی؟ ځو ځله مې ووېل چې لاړ شم او تا د تل لپاره پرېږدم، خو هر ځل به مې فکر کاوه چې: (هغه ډېر څه راکړل، اوس به فکر وکړي چې زه ښه انسان نه يم، حقيقت خو دا دی چې ستا مرستو سره تړون راته يو توهين او ځور و.
تا به په خوشالۍ راکول او ما به په خفګان اخيستل، خو اوس ژمنه کوم چې بيا به داسې کار نه کوم: که ماته دې راکړل هر څه ښه دي، که دې رانه کړل هم هر څه ښه دي، خو که ماته پيسې راکړې او بېرته يې رانه وغواړې؛ نو هر څه به ډېر ښه شي.
تل له ډالۍ منلو وېرېدم، ډاليو راته د ګناه او ځور احساس راکاوه... فکر مې کاوه چې هره هيله به بدل لري. خو اوس دا دی پوهېږم، دا پيسې ښيي چې ته په ما او زما په کار څومره باور لرې.
واوره، له پيسو دې راته ژوند ډېر رابښلی دی. زه بې له دې شوره او بې له دې مينې ژوند نه غواړم. دې ورځو کې ټول خلک مړه دي، ځکه داسې څوک نه شي پيدا کولای چې مينه ورسره وکړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



***

## ۳ مئ ۱۹۱۴

دا یکشنبه مو چې سره یو ځای تېره کړه، خوږلت یې اوس هم احساسوم. هغه شېبې مې زرګونه خله بیا رایادې کړې، چې زه او ته په کې خوا په خوا وو، ستا ویلې کلیمې پرلپسې تکراروم او لکه په هر ځل یې چې ښه درک کوم.

ستا غږ چې اورم د ژوند نرمي او حقیقت مې سترګو کې رابرسېره شي. هر ځل چې د ځواب په نیت خوله پرانیزم ځان په عجیب ډول روښانه او ډاډه احساسوم.

ته د داسې کار کولو قوت لرې، چې زه د خپل وجود په لا ډېره روښانه او رڼې برخه لاس کېږدم.

***

## ۲۴ مئ ۱۹۱۴

زړه مې غواړي چې ښایسته ډېره موده په دښته کې قدمونه واخلم. ماري، ته فکر وکړه چې په یوه ښکلې او توده ورځ له ښاره، بهر یو ځای قدمونه اخلو او ناڅاپه مو د سرک په منځ توپان راګېر کړي.

څه معجزه ! آیا له دې به بل په زړه پورې احساس وي، چې وګورو عناصر په اسمان کې خوځېږي او د ژوند قوت زېږوي؟ راځه چې د خپلې کوټې څلوردیواله شاته پرېږدو. ماري، راځه چې لیرې پرتو ځایونو ته لاړ شو او لرې خبرې وکړو. زه یوازې هله په یو څه پوهېدای شم چې تاته یې تکرار کړم. دا مې درته مخکې هم ویلي او تل به یې تکراروم.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۰ جون ۱۹۱۴ (د ماري له یادښتونو)

ماري غواړم په خپل ژوند کې تر ټولو مهم نقاشي شوی څیز در وښییم: یو انځور، د خاطرو له منځه راوتی، د مور مې دی.

دا د هغې د اروا انځور دی، نه په کې د ښکلا پېژندنې چلونه شوي او نه د نقاشۍ تخنیکونه. دا انځور راته هغه بیخي په هماغه ډول ښیي چې زه یې غواړم. د هغې اروا هماغلته ده، په هماغه ساده عظمت کې.

مور مې یوازې هله لیدی شم چې سترګې مې پټې کړم؛ نقاشي څه شی دی؟ د لیدو پراختیا. همداسې لکه موسیقي چې د اوریدو پراختیا ده. زه چې څه شی پنځوم، غواړم چې ټول خلک یې ووینې.

بله نړی، چوپتیاوې، بېلتونونه، یوازیتوبونه، یو واټن شته... هغه ځای ته چې ژوند پکې ځان په خپل ټول شدت سره ښیي، راځه چې هلته لاړ شو.

***

## ۲۰ جون ۱۹۱۴ (د ماري له یادښتونو)

ماري، فکر کوم تېروتنه دې کړې، زموږ تر منځ له نږدې او خوږې اړیکې د ځان ساتلو تېروتنه. انسان ته د احساساتو له نظره درې شیان لارښوونه کوي: منطق، زړه او شهوت. دا هر څه په یوه ځانګړې دوره کې د ژوند لارښوونه کوي. کلونه کلونه راته یوازې منطق او زړه لارښوونه کړې خو اوس دا دی...

تا راته وویل: خلیله ګرانه، هر څه به سبا او سبا ته پرېږدو او په دې شېبو کې زه د خامۍ او سپکتیابه احساس کوم. ته له ډېرو مهمو مسایلو سره داسې چلند کوې، لکه هېڅ ارزښت چې نه لري.

زه مئین یم، زه له هغې ډېره تمه لرم چې ته یې غواړې، هر ځل چې یو بل ګورو، ټوله فضا زما پرځای یوازې ته ډکوې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


زه مئین یم او پوهېږم چې خوږ (صمیمي) چلند خپل وخت لري او تېرېږي. زه نه غواړم چې تر منځ مو کوم مهم ټکی هېر شي، ځکه ژوند تېرېږي او موږ نه پوهېږو چې راتلونکې شېبه څه پېښوي؟ زموږ اړیکه قوي او کافي ده. خو نه پوهېږم دا اړیکه په کوم ځای کې کولای شي چې د عشق ټاکونکې پولې ماتې کړي؟

په هر حال، ځان تاته سپارم، انسان بل چاته ځان یوازې هله سپارلی شي، چې مینه یې قوي وي، دومره قوي چې ددې سپارلو پایله یې مطلقه خپلواکي شي.

***

## ۸ جولایي ۱۹۱۴

ته د درک قوت لرې، ماري محبوبې. ته هغه سترې اروا (روح القدس) ته ورته یې چې انسان ته نږدې کېږي، دا نږدیکت یوازې د خپلو شېبو شریکولو ته نه وي، بلکې د یوه بې ساري کار لپاره وي. له کومې ورځې چې په دې موضوع پوه شوی یم، ستا د قوت دغه معجزه مې شپه او ورځ د یوه کمال خواته بیایي.

تل مې فکر کاوه، چې که څوک مې درک کړي، دغه درک به مې د غلامۍ لامل شي. د درک کېدو لپاره باید هره بیه پرې کړو، خو تراوسه چې څومره تجربه لرم ستا درک راته تر هغو ټولو ژوره ارامي او خپلواکي راکړې. په هغه دوه ساعته ملاقات کې تا د زما د زړه تر ټولو تیاره ټکی کشف کړ، زما له سینې دې وویست، لمس دې کړ او تل لپاره ورک شو. هغه ټول زنځیرونه مات شول چې زه یې بندي کولم. خدای دې درسره ښه وکړي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۲ جولايي ۱۹۱۴

ماته دې وويل: په تا کې ډېرې ښکلاوې وينم، څکه ته خورېدلای شې.
گرانې ماري، ستا ليکونه ماته يو بل مهم پيغام و.
هيله ده چې په غرونو کې يوازې او له غيرحقيقي شيانو ازادې شپې به درته په زړه پورې وي او ژوند به ساده او په رښتينولۍ تېروي.
په هر صورت زه هلته يم او هيله ده چې دا موضوع تاته هم زما هومره حقيقي وي.
په فکرونو کې ډوبې چوپتيا کې مې قدمونه اخيستي او په اروا کې مې ډېرې نوې پېښې رامنځته شوي، زړه مې غواړي چې هغوی ته شکل ورکړم، خو لاسونه مې له تخيل سره ملتيا نه کوي.
گرانې ماري، په همدې راضي يم چې فکر وکړم زه او ته دواړه دا نړۍ شاته پرېښودی او بلې حقيقي نړۍ ته تلی شو، هغه نړۍ چې ژوند پکې کولای شو، هغه نړۍ چې تل مو يې په اړه فکر کړی دی.
ډېره ښکلې شپه ده ماري، خدای دې رښتونې کړه.

***

## ۷ اگست ۱۹۱۴

يوه اونۍ کېږي چې د بوستن په پردي ښار کې يم، هر څومره هڅه چې کوم نه کار کولای شم او نه فکر. دې باسواده خلکو سره ډېره يم، خو گډون مې ورسره بيخي لږ دی.
ماري، نه پوهېږم څه رابانديې شوي دي، دا خلک گورم او پوهېږم چې طبيعت يې ښه دی، خو څنگ کې چې ورسره ودرېږم، يو شيطاني بې‌حوصلې توب او ددوی د څورولو عجيبه هيله راکې پيدا کېږي. دوی چې خبرې کوي، ذهن مې غواړي چې له دوی ليرې څمکو ته والوځم، لکه هغه مرغۍ چې اوږده

Made with Xodo PDF Reader and Editor


رسی یې په پښنو پورې ترلې وي.
بیا خپل سوریایي وطنوال رایاد شي او فکر کوم چې بیخي لږ یې ځورولم، ځکه ساده خلک دي او هڅه نه کوي چې ځان ډېر په زړه پورې وښیي.
هغه خلک چې په زوره ځان په زړه پورې ښیي، تر نورو ډېره کرکه ترې کېږي.

***

## ۷ اگست ۱۹۱۴

د اروپا اوسنۍ جګړې د ټولې نړۍ خلک رانغاړلي دي، زه او ته هم دا دی همدا جګړه کوو.
انسان د طبیعت یوه برخه ده او د طبیعت عناصر هر کال د یو بل پر وړاندې جګړه اعلانوي: ژمی د سپرلي له قوتونو سره جنګېږي او دا جګړه هم د انسانو د هغې غوندې ورانوونکې ده. موږ هم باید په دې لاره لاړ شو او زیاتره وخت د هغه شیانو لپاره مړه شو، چې لا مو سم پېژندلي هم نه دي.
څوک چې د تلپاتې سولې لپاره جنګېږي، هغو خوانانو شاعرانو ته ورته دي، چې نه غواړي سپرلی پای ومومي. انسان باید خپلو نیتونو او خوبونو لپاره جنګېدل زده کړي، ځکه دا هم په دې سیاره کې د پرودګار د امانت یوه برخه ده.
هېڅ څوک د ژمي په راتګ نه ژاړي، همداسې لکه سپرلي کې چې څوک په دښته کې د ګلونو په غوړېدو نه ناځي. داسې خلک هم شته چې د ژمي سړې شپې یې د اوړي له تودو شپو ډېرې خوښېږي، ایا دې خلکو ته به دا ویل مناسب وي چې: تاسو زړه نه لرئ، ښه مو ولیدل چې سړو (یخنۍ) طبیعت بدرنګه کړ، خو تاسې هېڅ ونه ژړل. د اوړي جلال او ښایست مړ شوی خو تاسو یې هېڅ کیسه کې نه یئ؟
ماري، د همدې لپاره تلپاتې جنګ په کار دی.
په هر حال، هېڅوک نه شي کولای چې د مرګ لپاره جنګ راوبلي، په دې نړۍ کې چې هر څه کېږي، د ژوند لپاره جګړه ده.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ٦ دسمبر ١٩١۴

په ليک کې دې راته ويلي: خدای دې مل او ساتونکی شه، څومره چې ستړی يې هومره به درسره نږدې وي.
له نن سهاره د ننداړتون په پته ليکونه راپيل شوي دي. په لويې نقاشي شوې تابلو يې ۲۵۰۰ امريکايي ډالره بيه ايښې ده. فکر مې نه کاوه چې له يوه داسې ورک هنرمنده به څوک څه وپېري، خو نن سهار مېرمن ويلسن دلته راغله او ويل يې چې غواړي يوه تابلوه وپېري.
څه فکر کوې، که له هغو لاسو دا تابلو ليرې شي چې غواړي ډېرو ليرو پرتو ځايونو ته ورسېږي؛ نو لوی کار به گڼې نه وي؟
دا نقاشي مې نوره د ژوند برخه نه ده، په دوی مې چې کار کاوه ډېر څه مې زده کړل اوس يې هم که خپل مزل ته پرېږدم، ډېر څه به زده کړم.

***

## ۲۸ دسمبر ١٩١۴

ماري، ذهن کې دې څه شته؟ داسې څه شته چې نه يې شې حل کولای.
دا د شهوت مسله د حل وړ نه ده او هېڅکله به نه شي. موږ هر زيانجن شی منو، خکه بې له دې بله لاره نه لرو، چې شرايط رښتوني دي او د ازادۍ نشتوالی دروغ دي.
په هغه شپه چې ته لاړې، توله شپه مې درپسې وژړل. د عادي او پرشوره انسانانو د خپلې منځي اړيکو اړوند شيان پرېږدو، چې له څنگه مو تېر شي.
نه پوهېږم، په هغه شپه چې څه وشول، تصادف و؟ که ډېر احساساتي او حساس نه شو، د هغې شپې پېښه هېرولای شو. خو مينه او بيا رښتينې مينه د شهوت پر وړاندې ډېره تته ده. په تېرو لسو ورځو کې چې څه شوي فکر پرې کوم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


او دې پايلې ته ورسېدم، چې زه او ته بايد پر دې موضوع ونه غږېږو، څکه د هر احساس ويلو واک نه لرو.

***

## ۱۳ دسمبر ۱۹۱۴

(د ماري هسکل د يادښتونو په کتابچه کې ليکلي)
(...)
خليل ته مې وويل چې د تودو اوبو بمبه خرابه شوې ده.
خليل وويل: (دومره قوي اوسپنه چې، د يوه ريل ګاډي غوندې پورته د غونډې سر ته مزل کوي نه خرابېږي، خو که په منځ کې يې د اوبو څاځکي کنګل نه شي.)
دا فکر مې وکړ، چې هر شی په خپل منځ کې نه ماتېدونکې قوت لري.
(...)

***

## ۲۸ جنوري ۱۹۱۵

دا درې اونۍ مې ښه خوب وکړ، په داسې زر کارونو مې فکر وکړ چې سږکال يې بايد ترسره کړم؛ وېرېږم ماري، هسې نه چې هيلې مې همداسې هيلې پاتې شي، څکه له ربښتيا کېدو مخکې يې پرېږدم او تل يې يوازې د سيوري غونډې يو څه ته رسېږم.
څوک مې چې کار ستايي له ليدو يې په خوند اخيستو عادت شوی يم، خو دا خفګان هم راکوې، څکه څه مې چې لا نه دي کړي د هغو ستاينه رايادېږي او بيا غواړم هغه ټول شيان په ياد وساتم چې لا نه مې دي ترسره کړي، پوهېږم ماشومانه کار دی کنه؟
بيګا مې خان سره ويل: دګياه شعور له هغه ژمي، نه راځي چې په اوړي پسې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



راغلی وي؛ بلکې له راتلونکي سپرلي راځي. دا گیاه په تېرو ورځو فکر نه کوي، په راتلونکو ورځو یې کوي. ښه که گیاوې باور لري چې سپرلی راځي؛ نو موږ انسانان ولې دا باور نه لرو، چې یوه ورځ به خپلو هیلو ته ورسېږو؟

***

## ۲ فیبروري ۱۹۱۵

### (ماري هسکل خلیل جبران ته داسې لیکلي)

مینه کول د انسان اصلي ستونزه ده. خو که موږ دا حل لاره پیدا کړو، چې هر څه سره مینه شونې وي، ورسره ویې کړو؛ نو پوه به شو چې حقیقت همدغسې مینه خوښوي او تر دې بله تلپاتې مینه نشته.

***

## ۹ فیبروري ۱۹۱۵

زړه ته نږدې ماري، ته مې لکه چې چوپتیا نه درک کوې، خو ستا خاموشي هم احساسوم. دا زما د چوپتیا ورځې ستا د چوپتیا ورځې هم دي. پوهه شه، درک یې کړه چې بې له تا یو کار هم نه شم کولای او په ورځني ژوند کې ستا اروا ته اړتیا لرم.

همدې یخو ورځو کې مې په یوه بې بخارۍ کوټه کې رایدر سره وکتل. شاواخو یې هر څه چټل او گډوډ وو، خو فکر کوم همغسې ژوند کوي چې په خپله یې غواړي. پیسې لري خو فکر پرې نه کوي، د هغه فکر په دې سیاره کې نه دی او له خپلو شخصي خوبونو ورهاخوا چکرې وهي.

خپل لیکلی شعر یې راته ولوست او په ژړا شو، بیا یې وویل چې ډېر ښکلی دی، په ما زیات دی، زه یې وړ نه یم.

بیا چوپتیا خپره وه او وروسته یې خبرې پیل کړې: له دې مخکې مې تاته په یوه لیک فکر وکړ، خو دا کار مې ونه کړ، ځکه له لیک مخکې باید صبر وکړم،

Made with Xodo PDF Reader and Editor


چې اروا مې خپل ځای ته را وګرځي.

***

## ۱۴ مارچ ۱۹۱۵

مکبث وايي، ژوند يوازې د يوه احمق انسان له خولې کيسه ده، دا کيسه معنا نه لري، يوازې له شور او زوږ ډکه ده، خو نه داسې نه ده. ژوند يو اوږد فکر دی، خو نه پوهېږم ولې مې زړه نه غواړي چې دا فکر له نورو سره شريک شي. نور خلک ژوند يوې خواته وړي او زه يې بلې خواته، خو يو هم تر ډېره وخته دا ذهني جګړه نه شو زغملای. ماري، موږ سره دا کار ډېر وشو، چې ژوند مو يوې خواته وړه او په دې لاره کې له شته يوازيتوبه بيخي نه وېرېدلو. اوس بايد دا ځای پرېږدم او د لمر مخې ته لاړ شم، د يادښتونو کتابچه مې را اخلم، چې تاته ليکل وکړم. يوازې په همدې سره کولای شم، چې ګډوډو ته مې نظم ورکړم.

***

## ۱۸ اپريل ۱۹۱۵

هو مارې، دوه ورځې مو يو ځای ښې تېرې کړې. د پخوا خبره چې کوم، د اوس او راتلونکي په پرتله ډېر حقيقي کېږم. ډېر کلونه له هر ژوندي شي ووېرېدم، دا وېره د عينيت ګرايۍ د نشتون او ځان سره د پردې له امله وه. دا به ښه وي که د زړه سپړلو او درد ظاهرولو قوت ولرم. زه تل په چوپتيا کې خورېږم او چوپتيا مو يو بل ژور خفګان ته ورښکته کوي.

هغوی چې خبرې نه کوي، ورته اسانه ده. د خپلو افکارو د منظمولو هڅه چې کوو له ګډوډۍ سره عادت کېږم، يوازې تاسره چې يم داسې نه کېږي. خبرې مو يو بل ته نږدې کوي، هر بې خونده شی ختموم چې له ياده مې وتی او په لاشعور کې مو ګرد وهلی پروت دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


دا ګډه چوپتيا چې يو ځای يې تجربه کوو، هماغه ده چې هر وخت يې درک کوو، نورې چوپتياوې وژونکې او حيواني دي.
خدای دې وساته خوږې ماري،خدای مو دې سره يو ځای لري.

***

## ۱۸ اپريل ۱۹۱۵

(ماري د سکوت په اړه خليل ته داسې ليکلي وو)
فکر کوم هېڅکله دې زما د مينې په ويلو او ناويلو خبرو باور نه دی کړی؛ تاسره زما د مينې کولو طريقه دومره پېچلې ده! اوس پوهېږم چې څومره به ځوريدلی يې او څومره شيانو په دې موده کې زموږ د ليرې ساتلو کار کړی.
څو شيبې مې ومنله چې تللي شيان بيا نه راځي، بيا مې پوښتنه وکړه چې زموږ اروا هم منطق لري؟ هېڅ ځواب مې ترلاسه نه کړ، خو څو شيبې وروسته مې د سترګو پر وړاندې د غره يو تصوير مجسم شو او پوهه شوم چې ګناه زما نه؛ د هغه غره ده.
ما چې د څه ختمولو هڅه کړې او تاته مې کوم درد درکړی دواړو لپاره بښنه غواړم. ګرانه خليله، داسې نه ده لکه تاته يې چې ليکم؛ بلکې لکه تاسره يې چې ليکم او په دې توګه مې ژوند لږ بښه دی، چې ته مې په خوا کې يې.
هغه غرونو کې چې هر ځای ته لاړه شم، د روانو اوبو سندره اورم، بيخي همداسې چې هر ځای کې يم خپل زړه ته ستا را روان احساسات درک کوم.
خدای دې وساته، خدای مو دې وساتي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۳ مئ ۱۹۱۵

تل مې غوښته ستا په اړه د هغه ژوند په څېر وغږېږم، چې ژوند پنځوي، خو ځانته مې اجازه ورنه کړه، ځکه ما ویل ته به نه غواړې چې داسې څه وویل شي. په هر حال فکر کوم، بلاخره زموږ تر منځ مهمه شبېه راورسېده.
که مو ولیدل په دې اړه به لا ډېرې خبرې وکړو، ددې لپاره نه چې ګڼې نوې موضوع به وي، د هغې زړې موضوع په څېر به پرې خبرې وکړو چې په نوې طریقې راژوندۍ شوې ده.
ګرانې ماري، تل به مې فکر کاوه چې مکاشفه ګڼې د هغه ستر شي کشفول دي چې له مخکې په موږ کې وي، خو موږ یې د ښکاره کولو جرات نه لرو؛ نو ځکه دا اجازه راکوي، چې د څه شي د ځرګندولو جرات نه لرو، تجربه یې کړو.
په کلاکې زموږ وده، دې ټکي ته رانږدې کړو او ددې برخې منل زموږ له درونه ډېر مهربانه دي.

***

## ۱۷ جولايي ۱۹۱۵

ته، زه او بل هر څوک چې د ژوند په خوښه زېږېږي، غواړو د خپل وجود پولو ته ورسېږو، دا یوازې د پېژندګلوۍ له لارې نه، بلکې زموږ هیله ددې تجربې ژوند دی. خو دا نړۍ پرلپسې بدلېږي او روح یې هماغه مطلق دی.
پخوانیو لویو شاعرانو به ځان ژوند ته سپاره، دوی ټاکلې موخه نه لټوله او نه یې غوښتل چې له رازونو پرده پورته شي؛ پرېښودل به یې چې ارواګانې یې منونکې شي او په کایناتو کې دننه حرکت وکړي. خلک زیاتره وخت اسرار لټوي او کله کله بریالي کېږي، خو اسرار د ځان پای ده او ژوند پای نه لري.
ماري ستا لیک زما د ژوند تر ټولو ښکلې ستاینه ده. دا له نړۍ سره د مخامخ کېدو او ددې لوځ لیدلو، د سپېڅلې هیلې ځرک و، همدا د ژوند د شعر روح

Made with Xodo PDF Reader and Editor


دی.
شاعران هغه نه دي چې شعر لیکي؛ بلکې هغه دي چې زړه یې له دې سپېڅلي روحه ډک وي.

***

## ۲ اگست ۱۹۱۵

په ټول قوت باید خان له تېر وخته راخلاص کړو؛ د هغې مور په شان چې تېر وخت ته یې ونه لیدل، که څه هم وخت یې په مخ کې گونځې پیدا کړي دي، خو څه چې شوي ورته خوشاله ده.
له ژور خفگانه ډک پنځه کاله مې تېر کړل، خو دغه کلونه راته ډېر پنځوونکي وو. په دې پنځو کالو کې مو وده وکړه، که څه هم زموږ ټول بدن یې سر تر پښو له زخمونو ډک کړ.
په لا ډېر قوت او د اروا په لا ډېرې ساده گۍ له دې حالته راوځو، هو ! زموږ اروا ډېره ساده ده او دا زموږ تر ټولو لوی امتیاز دی. د نړۍ ټولې غمیزې انسان سره مرسته کوي چې اروا یې ساده شي، د اروپا جگړه هم یې هم یوه برخه ده.
زه په دې باور یم چې پرودگار تر هر چا ساده دی.
ماري! ته پوهېږې چې ټولې انساني اړیکې په بېلابېلو موسمونو وېشل شوې دي. دا تېر پنځه کاله زموږ د ملگرتیا موسم و. اوس نوی موسم پیل کېږي، دا موسم ډېر گردجن نه دی، ساده دی او موږ سره په ساده گۍ کې ډېره مرسته کوي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ٦ اکتوبر ١٩١۵

څوک چې اروا لري، د اروا فکر هم ورته نوی وي، موږ قطعاً له هغه ډېر ستر یو چې فکر یې کوو.

***

## ٩ دسمبر ١٩١۵

د نجوم ددې ښو کتابونو لپاره زړ خله مننه کوم. دا موضوع راته هېڅکله په زړه پورې نه وه، خو اوس چې فکر کوم، ګورم نجوم د انسان درک کولو تر ټولو ښه لاره ده.

زموږ د تخییل قوه دومره کمزورې ده، چې خپلې قبیلې، نژاد او پلرونو خواته د تلو لپاره هم نجوم ته اړتیا لرو. که زموږ د ټولو ذهن له نورې نړۍ او سیارو خبر شي؛ نو د خپلو ګاونډیانو له ستونزو به بیا مخ وانهړوو.

ټوله ورځ کار کوم، اه ماري زړه مې غواړي دا زړه مې وچووم، چې له ټولو بندونو خلاص شي. لاسونه مې ناپوه، ډارن او پردي دي. زړونه مو تر موږ ډېر ښه دي، زموږ د احساساتو او هغه لارو چارو تر منځ زرګونه پردې دي، چې غواړو دا احساسات پرې وپېژنو. که څوک وکولای شي چې له دننه - بهر ته یوه لاره پیدا کړي؛ نو په پرلپسې بدلون کې ژوند کوي؛ دا هره ورځ ځان بیا له سره جوړول دي، همداسې لکه تا څومره ښه ویلي وو، چې پرونۍ ورځ زرګونه کاله مخکې هم پېښه شوې وه.

ستا خواږه او په زړه پورې لیکونه چې لولم د هغې ګیاه احساس راکوي چې لمر ته لوښړي او خپلې ټولې تیارې له یاده باسي.

باور وکړه ماري! یوه ورځ به هغه انسان شم چې دا ټول لیکونه ورته لیکل کېږي، زه غواړم په خپل ټول زړه او اروا هماغه انسان شم چې ته فکر کوې، ګنې یم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ٦ جنوري ۱۹۱٦

د لیک لپاره فکر کوم، پر هغو قالبونو فکر کوم چې زما بې ساري افکار انځور کړي، هغه افکار چې زما دننی ژوند یې نارامه کړی دی - خدای، نړی او د انسان اروا. فکر کوم یو شور راکې جوړېږي او دا دی د اورېدو په تمه یې یم. یوازینی هیله مې دا ده چې یوه دقیقه لاره پیدا کړم، داسې دقیقه لاره چې په ما کې د جوړېدونکي شور وینا پرې ټولو خلکو تـه ورسوم. نورو سره د خدای په اړه د خبرو اترو وړتیا ښکلې ده، د خدای جوړښت پوره نه شو درک کولای، ځکه هغه نه یو، خو لږ تر لږه کولای شو چې د هغه د ځرګندو وړانګو په لیدو خپل معلومات ودې ته چمتو کړو.

***

## ۳۰ جنوري ۱۹۱٦

خوږې ماري، یو نوی ادارک راکې پیدا کېږي او شپه او ورځ او ګام په ګام راسره مل وي. لکه چې سترګې مې لږې لږې د خالق خلقت ته رسېږي. خلقت د یوه ګرد په څېر په غرونو، دښتو او سیندونو کې وینم، هغه تراوسه ځان پوره نه پېژني، میلیونونه کلونه تېر شول، هغه د خپلو غوښتنو په لټه روان دی او غواړي ځان لاپسې پیدا کړي، د همدې لپاره یې انسان پیدا کړی دی.
خدای یوازې د انسان او ځمکې خالق نه دی، هغه پر دې سربېره د هر هغه څه قاضي هم دی چې تر لمر لاندې ترسره کېږي. خدای په خپلو دې لومړنیو غوښتنو کې چې انسان او ځمکه یې یوه برخه ده، په پوره سپېڅلتیا خلېږي.
خدای یو خوځنده قوت دی چې د همدې غوښتنې له لارې وده کوي او په دې توګه ورسره په ځمکه هر څه وده کوي.
دا غوښتنه د قوت سرچینه ده، چې هر څه بدلوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱۰ فيبروري ۱۹۱٦

گراني، منې په بانک کې اوس هم دومره پيسې لرم چې يو کال گوزاره مې پرې کېږي؟ خو ته بيا هم پيسې راکوې، بې هېڅه او بې حده پيسې راکوې.

په پرده کې اوسېدلی يم، يوازينی شی چې زړه مې نه پېژنده، ژوند سره مينه وه. پوره شل کاله مې د هغه څه ترلاسه کولو سخته لوړه او ژوره تنده تېره کړي، چې حتی نه پوهېدم څه شی دی؟

خو هر څه بدل شول، همالته يم چې وم، هماغه کوم چې کول مې، خو اوس داسې يو سخې قانون وينم چې له اوسپنو گلان جوړوي او له گلانو خدای.

دا لوړه راسره له کلونو وه، تر څان هاخوا د يوه موجود د تشخيص د ليوالتيا لوړه، په بېلابېلو طريقو مې هڅه وکړه، خو يوې کوتلې لارې ته رسيدلای يم او هغه ده: د خدای لاره!

اروا د خدای په لټه ده، همداسې لکه توده هوا چې مخ په بره او اوبه چې مخ په سيندونو روانې دي. اروا دوه وړتياوې لري: د پلټنې هيله او همدې هيلې لپاره جگړه.

او اروا هېڅکله خپله لاره نه ورکوي، همداسې لکه اوبه چې په غرونو نه سر کېږي، په همدې خاطر ټولې ارواوې خدای ته رسېږي، دا مهمه نه ده چې څومره موده نيسي.

اوبه که د ټولو سمندرونو په اوبو کې گډې شي، بيا يې هم مالگه خپلې څانگړتياوې له لاسه نه ورکوي. اروا خدای ته خپله لوړه له لاسه نه ورکوي؛ روح تلپاتې دی او يوه ورځ به موړ شي.

اروا هېڅکله د خدای لټون نه بس کوي او چې ور ورسېږي؛ نو پوهه به شي چې هغه هم په لټه کې دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## مارچ ۱۹۱٦

ماريې ګلې! ځان راته د هغه تخم غوندې ښکاري چې پوهېږي سپرلی رانږدې دی، پنډاخه (جوانه) به پوټکی وشکوي، ژوند راکې تراوسه ويده دی، چې غږ ورته وشي، د ځمکې سطحې ته بايد پورته شي.
سکوت دردونکی دی، خو هر څه په سکوت کې جوړېږي او په ژوند کې داسې شېبې شته چې يوازې انتظار بايد پکې وباسو. په هر څه کې دننه، د هستۍ په ژورو کې داسې يو قوت شته، دا قوت هغه څه ګوري او اوري چې موږ پرې برلاسي نه يو، نن چې موږ څه يو له پرونۍ چوپتيا زېږېدلي يو.
موږ له هغې ډېر تکړه يو چې فکر يې کوو، داسې شېبې هم شته چې د زده کړې يوازينۍ لاره پکې نوښت نه کول او څه نه زده کول دي، ځکه په دې شېبو کې زموږ په وجود کې پټه چوپتيا فعاله وي او زده کړه کوي.
زموږ په وجود کې پټه پېژندګلوي چې ځان راڅرګند کړي، موږ ځانته حېرانېږو او فکر مو له ژمي، په ګلونو کيني، دلته نو هغه نغمې غږوي چې په خوب کې به مو هم نه وي اورېدلي.
ژوند ټول عمر موږ ته له هغه ډېر څه راکوي، چې موږ يې ځان وړ بولو.

***

## ۹ اپريل ۱۹۱٦

خوږې ماري، اروا مو چې تل په فکرونو او بدلونونو کې ډوبه شي؛ نو کليمې هم رانه بې واکه کېږي، که څه هم په دې مياشتو کې راسره پرلپسې خدای ته تدريجي ادارک ملګری و، خو ستا ځنګ مې هم نه دی پريښی او تل په دې ډاډه وم چې په همدې ظاهري چوپتيا کې يو بل سره غږېږو.
د سهار د خبرو او په پارک کې ګرځېدو لپاره يو ملګري ته اړتيا لرو، که څه هم ته رانه ليرې وې، خو دا ملګري دې پاللې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


کار ډېر کوم او هڅه مې دا ده چې ټکرونه مې لږ وي، زما او د نورو تر منځ پروت ګړنګ (پاڼ) لاپسې ژورېږي، کله کله فکر کوم: دا ګړنګ ژور دی، ځکه په ما کې نیمګړتیا ده. که دغه نیمګړتیا بیخي له منځه لاړه شي، کولای شم خلکو ته بیا نږدې شم او کولای شم چې د عشق په یوه نوې بنه له دوی سره مینه وکړم.

***

## ۱۰ مۍ ۱۹۱٦

ګرانې ماري:

خپل نوی پای ته رسولای تمثیل درلېږم، په عربي ژبه مې لږ لیکل کړي دي، غواړم ستا سمونې او وړاندیزونه پرې واورم:

ما او ملګري مې د معبد سیوري ته یو ړوند ولید.

ملګري مې وویل: دا د نړۍ تر ټولو پوه کس دی.

ورنږدې شو او پوښتنه مې وکړه: له څه وخته ړوند یې؟

- له زېږېدو

ومې ویل: زه ستوري پېژندونکی یم

ړانده راته وویل: زه هم

بیا یې لاس په خپله سینه کېښود او ویې ویل:

له دغه دننه خایه، ټولو لمرونو او ستورو ته لاسرسی لرم.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱٦ مې ۱۹۱٦

گرانې ماري:

له سمونې دې مننه، نورې کيسې هم شته، خو نه پوهېږم چې څنګه يې بهر راوباسم، ځکه انګليسي د تثميل د بيان لپاره ډېره ښه ژبه نه ده.

له کومې ورځې مې چې د خدای نوې معنا په بدن کې ځای موندلې دی، د ليک له لارې د اړيکې نيولو اړتيا مې يو څه له لاسه ورکړې ده.

انسان چې په الوتکه کې ناست وي ځمکه له بېلابېلو زاويو ګوري، خو په هماغه سترګو... هغه سترګې بايد بدلې شي، کيدای شي هر څه بيا په خپل رښتيني شکل وګورو.

***

## ۱۹ دسمبر ۱۹۱٦

گرانې ماري:

په دې دومره موده کې ستا له ليکونو، د هغې له هر توري او هغه الهي روح نه چې په دې هر يو کې دی مننه کوم، خدای دې وکړي چې زه يې د ترلاسه کولو وړ شم.

د ژوند لاس چې دروند او شپه بې سندرې وي، د مينې او باور وخت دی. موږ چې چاسره مينه کوو، ژوند اسانېږي او شپه سندريزه کېږي، په دې وخت کې ژوند لاپسې سپکېږي او سندرې د تيارو له منځه راوځي.

له رالېږلې اسماني کانې دې مننه کوم، اوس عادت شوی يم چې دا لمس کړم او فکر کوم چې له ميلونونه کيلومېټره ليرې واټنه راغلې ستوری مې په لاس کې دی، دا اسماني کانې مې د تخييل له ژويو اړوي او په روح کې مې سرشاري او ژورتيا لاپسې ډېروي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۸ جنوري ۱۹۱۷ (د ماري له يادښتونو)

دا ليک د ماري د يادښتونو د کتابچې يوه برخه ده، ځکه په ګرانې ماري نه پيل کېږي او نورو ليکونو سره توپير لري.

د شپې ډوډۍ ته نورو سره نه کېنم، دې دسترخوان ته چې څوک کينې په ټولو کې ژور يوازېتوب دی او هر څوک غواړي چې د ځان په اړه لږ وغږېږي. وروسته يوې مېرمنې سره خبرې پيل کوم او اجازه ورکوم چې خبرې وکړي، له څه مودې وروسته وايي: بلاخره مې يو څوک وموندل چې ما درک کولای شي!

بيا رانه غواړي چې سبا مابنام هلته لاړ شم، په لومړي او دويم ځل نه کوم، خو په درېيم ځل ست ورسره ځم، ځکه نه غواړم چې بې ادبه ښکاره شم.

ګورم چې دا مېرمن غواړي زه يې د ژوند يوه برخه وګرځم- غواړې ما ډېر ووينې او د ځان په اړه راته ووايي، د يوستوي ژوند په اړه، د خپلو ستونزو په اړه، واده يې کړی او راته وايي: خاوند مې ښه سړی دی، خو خبرې مې نه اوري، او په دې خاطر دا شل کاله کېږي چې يو نابلده سړي سره اوسېږم... او نور.... همداسې خبرې اوږدوي.

نه غواړم چې دا شيان مې ژوند کې تکرار شي، د نورو خلکو درک کول مې پيل کړي دي، خپله ورسره علاقه لرم، خو له يوې پراخه زاويې، لکه د يوه اسمان، مهمه دا ده چې زه يې خوښ شم، خو نه غواړم چې د علاقې لرلو دا ډول دې نور خلک پر ما لاسبري کړي.

تاسره هر څه بدل دي، ځکه ښايسته او پرشوره دي او زه ځان سپارل خوښوم. کله مو خبرې نه دی پيل کړي، خو بيا هم چې ته څه وايې زه يې درک کوم؛ ته چې تر څو خبره پيل کوې زه يې اخر ته رسېدلې يم.

زه فکر کوم دا دې مودې پورې اړه نه لري چې زه او ته پکې يو ځای يو، دا په هغه ظرفيت پورې اړه لري، چې په دې موده کې د ودې لپاره يې لرو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۳۱ اکتور، ۱۹۱۷

هو ګرانې ماري، موږ درک کوو، بې له دې چې پوه شو ګني موږ يې درک کوو او داسې شی تخليقوو، چې په شعوري ډول يې نه شو تشريح کولای.
زموږ د اړيکې واقعيت، د يوه داسې حقيقت اړوند دی چې زموږ شاوخوا ګرځي.
حتی کله چې په يو څه شکمن يو زړه مو شک نه کوي، حتی کله چې ژوند ته "نه" وايو نړۍ يې "هو" اوري.
هغه څه چې معاصرې تجربې بلل کېږي، نه يوازې دا چې انسان يې اوريدلی شي بلکې خدای يې هم هر وخت (هو) اوري.

***

## ٦ جنوري، ۱۹۱۸ (د ماري له يادښتونو)

ځان نه پوښتنه کوم، چې د عيسی مور يې د زوی له کرامته څومره خبره وه؟
حتمن پوهيده چې زوی يې د ستونزو سرچينه خو ښه انسان دی. د عيسی په مرګ او مينه والو (حواريونو) د مينې له کبله بايد مريم هغه څه زيات پرېښي وي، چې په ژوند کې يې وو.
يوه ورځ به راشي چې مسيح به د يوې شغلې غوندې درک کړو، هغه شغله چې هر څه به پکې د ژوند د شور پرسوزه سندره وايي.
سقراط لکه چې خپلو شاګردانو سره ښه ذهني اړيکه لرله، خو عيسی غوښتل چې شاګردان يې دی احساس کړي، وګوره څه يې ورسره وکړل، يوحنا لومړی شعر پېژندونکی شو او پولس نړيوال شو.
ميګل آنجلو له هغو انځورګرو لږ ښه وو، چې ده پسې راغلل، خو اوس د هغه لاره ډېره ښه پېژني.
مسيح د انسان فکر بدل کړ او انسانانو ده له طريقه نوې لارې پيدا کړلې.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ٦ جنوري ١٩١٨ (د ماري له يادښتونو – د تېر ليک دوام دی خو د فکر د بېلتون لپاره جلا راوړل شوی دی.)

متعالي اروا له يوه رسالت سره زېږېږي او زه فکر کوم چې هر انسان يو رسالت لري. انسان بايد کلونه تېر کړي چې پوه شي يوازې دی، هيڅ انسان دا وړتيا نه لري چې د خپل شخصي دليل پر بنسټ ژوند ته د تجلی اجازه ورکړي، اتيا په سلو کې انسان له هغه ژونده تېرېږي چې له ماشومتوبه يې غوښت.

لږ خلک دنيا سره ډغره وهلی شي او مقاومت ورسره کوي، دوی کولای شي چې خپله وينا او عمل کې د خپل رښتيني ذات يوه ذره پرېږدي.

***

دغه کتاب د رحماني کتابتون لخوا سکن شی او نور زيات کتابونه يې هم سکن کړې تاسو يې له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ کولای شئ نو له هم دغه کتابتون سره په ټليګرام کې يو ځای شئ ، د لينک بټنه يې پورته په عکس کې شته .!

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## (د مې په شپږمه نېټه خليل او ماري لومړي ځل لپاره د (پېمغبر) په مضمون بحث وکړ، دې کتاب يې نړيوال شهرت وګاټه.)

خليل راته وويل: دا اټلس مياشتې مې په هغه شي کار کاوه، چې دننه يې راکې وده کوله او بلاخره يې ځان په ۱۲۱ مخه کتاب کې راڅرګند کړ، چې ۱٦ مخه مې تراوسه ليکلی.

خليل ددې کتاب سريزه لا نه وه ليکلې خو ماته يې په اړه خپل فکر داسې بيان کړ:

په يوه مديترانه يي ښار کې يو سړی، يو شاعر، مُلهم يا پېغمبر په يوه دښته کې اوسېږي. دی له ښار سره مينه لري، خو د ښار خلکو ته د نږدې کېدو لپاره يوازې دا مينه بس نه ده، هغوی پوهېږي چې دا تېرېدونکی دی او يوه ورځ به لاړ شي، يو سهار يوه کښتۍ رانږدې کېږي، ټول غلي ولاړ دي، خو دوی په دې پوه دي چې له کښتۍ به هغه سړی رابښکاره کېږي او دا دی، دی چې غواړي دا خلک د تل لپاره پرېږدي، دوی پرې ورټولېږي، ورته وايي هغه شيان موږ ته هم راوښيه چې تا په دې دومره کلونو کې زده کړي دي، يو سړی ورته وايي، ماته دوستي وښيه.... او همداسې دوام کوي.

خليل راته ددې کتاب څو ټوټې ولوستې او بيا مو د نصيحتونو ۴۳ کتاب پيل کړ، بيا مې ورته وويل:

- ددې کتاب کې راغلي شيان درته داسې نه ښکاري لکه په دې څو کلونو کې چې زموږ له خبرو اخيستل شوي وي؟

هغه پيغمبر به چې راته د نصيحتونو کتاب او ښار سره دده د اړيکو په اړه غږېده، ما داسې فکر وکړ چې ګنې خپل ځان راته ښيي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۱۱ مئ ۱۹۱۸

ماري، زه خو وایم چې ته باید په ښوونځي کې د انځورګرۍ درس ووایې، ځکه هماغه درس هغه څه کښلی شي چې ته یې فکر کوې. د څه شي طرح چې دې جوړه کړه هغه بیا نه هېرېږي، موږ د ځېرو او رنګونو ماشومان یو او همدا زده کوو.

زه خوربړم، ځکه خلک د خیال له قوت ګټه نه اخلي او غربېږي، حتی یوه شېبه هم ساه نشي اخیستی. تل د تورو او کلیماتو سیلاب بهېږي او دې ټولو سره یو هم په دې نه پوهېږي چې څه وایي.

شپږ کاله کېږي چې زه او ته فکر کوو، خبرې کوو او کار کوو. خو موږ هر څه احساسوو، ځکه که دا فکرونه په کلیمو واوړي زموږ یوه برخه لېردوي، خو دا قاعده هم هره ورځ نه کارېږي.

زه غواړم چې نصیحتونه ساده کتاب وي، سختې او دردناکې برخې یې ډېرې تېزې نه وي، مهمه دا ده چې زما د داستان شخصیت حقیقت ووایي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱۷ نومبر، ۱۹۱۸

داسې شېبې هم شته چې ژوند پکې ظاهرً بې ارزښته وي، خو بیا یې هم له زرګونه معناوو ډکوي. زړه مو هر ځای کې دی، موږ د رود په غاړه کېنو او ژورې اوبه یې څښنو. پوهېږو چې اوبه هم تږې دي او هغه هم موږ څښي؛ موږ همدې وخت کې له کایناتو سره یو ځای کېږو.

څو ځله مې ویلي چې: خدای د نورو له زرګونو پردو ورهاخوا دی.

دا دی اوس وایم چې: له دې یوې پردې په تېرېدو نړۍ ختمېږي او خدای راتږې کېږي.

هر څه بدل دي، دا لارې، کوڅې، ریل ګاډي او موټرې یوه بل ښایست راښیي او ددې جګړې انجام لیرې نه دی چې دا ټوله اروپا یې نیولې ده. زموږ د پلویانو بریا مهمه نه ده، څکه روح پر مادې لوړ دی.د نفتو یو څاڅکی که څلور کاله د سیند په تل کې وي بیا به هم د اوبو سر ته پورته کېږي او رڼا به ویني.

خو زه تاته دا خبرې ولې کوم ماري؟ څه چې کېږي ته خو پرې پوهېږې، او تا په دې نړۍ کې تر بل هر چا وړاندې زما ایمان په پیروۍ تغذیه کړی دی.

***

په ۱۹۱۹ کال کې د خلیل او ماري هسکل تر منځ نږدې اړیکې رامنځته شوې او تقریباً په دې موده کې یې هېڅ مهم لیک نه دی ثبت شوی، په دې ټوله موده کې یوازې درې لیکونه لیکل شوي؛ په یوه کې یې ماري له جبرانه غواړي چې د شاګردانو د کارونې لپاره یوه حلقه طرحه کړي، په دریم لیک کې د حلقې طرحه او ورسره یو خلاص شوی لاس رسم دی، چې سور ګل یې تلي کې ایښی، بیا یې همدا سمبول ورته تشریح کړی هم دی. همداسې د ماري هسکل د شخصي یادښتونو په کتابچه کې هم یوه لاره شته، چې خلیل سره یې یوه لیدنه تشریح کوي او خلیل ورته وایي چې راتلونکی کال به د نصیحتونو کتاب خپروي او نوم به یې پیغمبر ټاکي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۱۸ اپریل ۱۹۲۰

ټول وجود مې له پیغمبره ډک دی، په دې کتاب کې مې خاص افکار راښکار کړي دي او هیله لرم چې د همدې لیکنې سره سم ژوند وکړم. په اصل کې ما له څوارلس کلنۍ هڅه کوله چې پېغمبر سره مخ شم، خو اوس دا دی په هغو حقایقو پوه شوم چې زما په ژوند کې وو او دا حقایق ځان په همدې کتاب کې رابرسېره کوي، دا کتاب زما ټول وجود بدلوي.

خلکو سره له پخوا ډېره مینه کوم، که څه هم بیا د یوازیتوب احساس کوم او پوهېږم چې دا خلک مې ښه لاروي نه دي، خو دا هر څه تا لپاره کوم.

اوس مې مینه زده کړې، موږ چې مینه ناک نه یو، یا که ښه احساس ونه لرو، هڅه کوو ځان بوخت کړو او نه پرېږدو چې دننني وده مو پر مخ لاړه شي، ځکه د مهارولو هڅه یې کوو.

ښه کم عقلتوب دی! موږ باید هېڅکله ونه وایو: چې غواړم په دې لارې وده وکړم. یا: اوس غواړم په دې بله لاره لټون پیل کړم.

موږ باید هغه ودې او پرمختګ ته ځان تسلیم کړو، چې هره خواته مو وړي.

***

## ۱۸ اپریل ۱۹۲۰ (د ماري له یادښتونو)

ژوند لوی پیغور دی، موږ چې هر وخت زړه کړی چې یو چا سره نرم شو، نورو ته رانه سپکاوی شوی.

خلکو سره خبرو کې باید پام وکړو، که چاته ووایو چې: ما ویل که ته داسې فکر کوې، خو که تجربه مو زیاته شوه، په دې موضوع ښه پوهېږئ. هغه کس دستي غوسه کېږي او د سپېلني غوندې به غورځي.

خو که ووایو چې: ته چټیات وایې.، هغه سړی دستي را متوجې کېږي او پاتې ټوله ورځ راسره په بحث او جنجال تېروي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۰ اپریل ۱۹۲۰ (د ماري له یادښتونو)

د پیغمبر په یوې برخې لګیا یم کار کوم، په هغه برخه کار کوم چې د جنایت او مکافاتو په اړه غږېږي. زه د جنایتکارو په اړه هېڅکله بې تفاوته نه یم او تل د ورځپاڼو جنایي برخې لولم. له کومې تګی چې خبرېږم داسې فکر کوم چې زه هم پکې شریک یم، د جنایت په یو داغ راته خپل ځان هم قاتل ښکاري.
هر وخت چې کوم انسان داسې ناسم کار کوي، موږ ټول همداسې فکر کوو، په نړۍ کې چې څه کېږي، په ځمکه د هر مېشت انسان د احساساتو غبرګون دی.
موږ په ټولو کې یوو او ټول په موږ کې دي. د هر انسان په زړه کې یو شاعر او اروا اوسېږي.

***

## ۲۱ اپریل ۱۹۲۰ (د ماري له یادښتونو)

عشق په ځان پوهېږي چې د پنځونې هڅوونکی دی، دا د ځان له سرشارۍ ورهاخوا بله موخه نه لري.
انسان په خپلو ټولو نیمګړتیاو کې پوره دی، دا باید ومنو، چې که څوک په یوه لاره ډېر په قلاره روان وي؛ نو دا په دې معنا ده چې په دې لاره همداسې تګ ممکن دی.
او همداسې په عشق کې هم کېږي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۰ مى ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

د هنر او علومو په ټولنه کې مو ښکلې شپه تېره کړه. ډبليو. بي. ييټس له خپلې مېرمنې سره راغلی و او ځينې شعرونه يې وويل.
هغه ښځه ډېره عجيبه ده: ده به چې شعر لوسته، بې حاله به وه، خو بيا چې ډوډۍ ته کېناستو ډېره ژوندۍ، مينه ناکه او چسته ښکارېده، لکه چې ييټس يې په ژوند کې ددې ښځې ارزښت درک کړی دی.
د ژوند موخه ځان تل په نيمه ښځينه حالت کې ښيي، دا يوازيني لاره ده چې انسان پرې خپل رسالت پېژندی شي.

***

## ۲۰ اګست ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

زمونږ د ورځني ژوند توجيې کولو يوازيني لاره دا ده چې، د زړه له تله مينه او کار وکړو. د زړه (زړه) بايد وکاروو، نړۍ بايد په هغو سترګو ووينو چې د خوشالی او خفګان دواړو اوښکې ترې راڅخېږي.
زه داسې شاعران پېژنم چې ځان پوره نه ښيي، ځکه وېرېږي چې هسې نه وپېژندل شي او يوازې پاتې شي؛ دوی دا نه غواړي، ځکه د يوه ملګري په ارزښت نه پوهېږي.
اېوټه، دا يوازيتوب هماغه شی دی چې انسان مشهور او زړه راښکونکی کوي. همداسې، زه هم يوازيتوب ستايم، زه چې خلکو سره نږدې يم، بيا هم د پام وړ يوازيتوب ساتم، ځکه زه کولای شم چې له خپلې برخې ټولو خلکو سره د ټولو ښوېدنو سره مينه وکړم.
خو که دا خلک نه غواړي چې د يوازېتوب احساس وکړي او ماته وايي چې زه خپل دننی يوازېتوب پرېږدم؛ بيا نو ددې مينې جادو ورکېږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۷ اگست ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

زه خپله د ضد ټوټه يم، که د نړۍ ټول خلک را يوځای شي او ماته ووايي چې اروا له بدن سره مري، زه له خپلې عقيدې نه اوړم، ځکه پوهېږم چې زما اروا نه مري.

اوس د پيغمبر په يوې برخې کار کوم، دا برخه د واده په اړه ليکل شوې ده، نو وايم: ښځه او سړی د يو بل جام ډکولای شي، خو له يوه جامه نه څښي.

زه څه وايم؟ چې يوه جوړه ځان غوندې بله جوړه نه شي زېږولای. که د مينې لپاره يوه کار ته لاس واچوې، اخره کې به پوه شي چې دا لاره يې په کرکې ختمېږي.

***

## ۳ سپتمبر ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

ما چې پخوا څه ليکلي دي د ننني فکر څرګندونه نه کوي. خو هغه وخت مې چې څه په کاغذ ليکل حقيقت راته ښکارېدل او بايد همالته يې پرېږدم.

ژوند داسې دی لکه تر سپېځلي ښاره پلې لار.

زما اثر، هغه نابلده دی چې د سفر په لومړۍ ورځ ورسره مخ کېږم.

په دې لومړي نظر کې دا نابلده تريخ او خفه ښکاري.

په دويمه ورځ يې تريخوالی کمېږي او سپېځلي ښار ته هم نږدې کېږو.

په درېيمه ورځ لږ لږ خوشاله کېږو او په څلورم، پنځمه او شپږمه ورځ دا خوشالي لاپسې زياتېږي.

د سفر په اومه ورځ، د ستورو او کهکشانونو په اړه خبرې پيلوو او سپېځلي ښار ته په رسېدو بيا يو بل نه ګورو، ځکه هغه مخامخ معبد ته ورځي چې ځان خدای ته وړاندې کړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۳ سپتمبر، ۱۹۲۰

## (د ماري له يادښتونو، هماغه ورځ بله ليکنه)

د ژوند ورځتيا دې پورې اړه لري چې موږ ژوند ته څنګه ګورو.

داسې انځورګر شته چې هڅه کوي د ميز په سر د انګورو د پراته لوښي ښايست پيدا کړي، دوی هڅه کوي چې په ټوله تازه ګۍ، رنګ، خلا او څېره يې رسم کړي. موږ چې بيا دا تابلو ګورو؛ نو په باغ يې بايد فکر وکړو، چې څنګه پکې راشنه کېږي او څنګه راټولېږي. په هغه ميکده بايد فکر وکړو چې ددې انګورو شراب پکې خرڅېږي، هغه خولې بايد رايادې کړو چې څکه ترې کوي؛ بيا بايد دا درک کړو چې دا ټول له بېلابېلو ځايونو راغلي او ټول په يوه لوښي کې ځای شوي دي. بيا چې وګورو قاب چيني، د چين په اړه چې په څه پوهېږو بايد راياد يې کړو. وروسته مو هغه مېز ته پام کېږي چې قاب پرې ايښی دی، بيا په هغه لرګي فکر کوو چې مېز ترې جوړ شوی دی، هغه ونه چې دا لرګی ترې راغوځ شوی دی، هغه څوک چې دا لرګی يې پرې کړی، وروسته بايد په هغه ځای فکر وکړو چې ترکاڼ او کورنۍ يې پکې اوسېږي.

هر څه ته داسې ليدل تخيل راپاروي او تر دې لا غني نړۍ ته لاس رسي پسې ګرځو.

ماشومان بايد دغسې فکر کول زده کړي.

***

## ۱۰ سپتمبر ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

ژوند زړورتيا غواړي، دانه چې لا نه وي چاودلې عيناً هماغسې وي لکه پنډاخې چې لا پوټکی نه وي مات کړی. يعنې يوازې هغه څوک ځان د ژوند په سيند ورګډولای شي چې پوټکی مات کړي.

په دې دوو موضوعاتو پوهېدل خيرکتيا غواړي: يو دا چې انسان د بل په

Made with Xodo PDF Reader and Editor



تجربو نه شي زېږېدی او دويم په سيند د ګډېدلو شوق. انسان په راتلونکي د پوهېدلو لپاره نه له چا سترګې او نه غوږونه پورولای شي. هر موجود له بل سره توپير لري.
زه دا هيله لرم، هيله مې دا ده چې لاس ته راوړنو لپاره پراخه زړه ولرم. د چا په اوړو بې له دې وېرې لاسونه واچوم، چې ګنې پرې به شي. د زيان له وېرې، د هغو کارونو له کولو ونه وېرېږم چې له ما مخکې بل چا نه دي کړي.
پرېږده چې نن کم عقل شم، لکه نن سهار، کم عقل توب ټول هغه شيان دي چې زه يې ببنلای شم. کيدای شي په دې کار ورټل شم، خو کيسه کې يې نه يم. له سبا څوک خبر دي، ښايي کم عقلتوب مې رالږ شي.
دوه انسانان چې سره مخ کېږي د هغو اوبلنو ګلانو (زبنق) په څېر دې وي چې خوا په خوا وي اويو بل لمس کوي، هر يو خپل زرين زړه ښکاره کوي او وريخې او اسمانونه يې څنګ ته خلېږي. زه نه پوهېږم چې دا مخ کېدل ولې بل ډول دي. زړونه پکې ترلي او له خوړېدنو وېرېدلي وي.
زه چې هر خل تاسره يم، ساعتونه پرلپسې په يوه خونه کې خبرې کوو. که غواړو يو بل سره ووينو، مهمه دا ده چې د هېڅ شي پټولو هڅه بايد ونه کړو او د ګلابونو غوندې بايد غوړېدلي يو.

***

## ۱۴ سپتامبر ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

الهي قوت هر څه پيدا کړل او هر ژوندي ته يې د فرياد کولو قوت ورکړ. د خدای د ليدو په هيله دغه فرياد باندې سترګې نه شو پټولای، په دې لټون کې بايد مرسته وکړې او ژوند کې برخه واخلې.
يوازيتوب د انسان ځانګړنه ده، خو که په چا ځان اورېدل غواړي د ژوند فرياد په هر ځای او هر کونج کې شته. ماته چې څوک رانږدې شي او ووايي چې په خدای باور لرې؟ زه دستي پوهېږم چې دا انسان نهيلی دی او په داسې يوه

Made with Xodo PDF Reader and Editor


محرک پسې گرځي چې دی هم په خدای باور پیدا کړي.
خو د خدای ذات چاته نه شو ښودی او زه خپله هېڅکله هڅه نه کوم چې په دې اړه څوک قانع کړم، د خدای بېلابېل تعریفونه دي او یو هم په درد نه خوري.
هېڅوک نه شي کولای چې پټ (نامریي) درک کې مرسته وکړي او هر څوک په خپلې شخصي کیسه پسې روان دی.

***

## ۲۰ سپتمبر، ۱۹۲۰

ګرانې ماري، زه خو داسې احساسوم چې مصر ـ ته ستا سفر ښندېږي، خو زرګونه کاله وشو چې مصر همالته دی او همالته به وي.
نو تادي ولې کوې؟ د وخت غبار چې هلته څه پرېښي، په عمل کې باید وغندل شي.

***

د ۱۹۲۰ کال د اکتوبر په لسمه نېټه ماري هسکل خلیل ته اوږد لیک لیکلی او ژور خفګان یې پکې ښکاره کړی و، ویل یې د ښوونځي د زده کوونکو مور و پلار یې ترې غوښتي چې د ودانۍ له دیوالونو د خلیل طرحې (نقاشي) لیرې کړي. ځکه ویل یې چې ددې طرحو مضامین شهوت راپاروي، که څه هم اسطورې او ځینې برخې یې له مقدس کتابه راخیستل شوي دي.
ماري په خپل لیک کې لیکي: (ماشومان باید په دې وویاړي چې دې لوڅو بدنونو سره تعامل کولای شي. که دې انځورو ته ځیر شي، پوهېږي چې د انسان بدن ارامتیا ته پیدا شوی دی.
که دې لوڅوبدنونو ته ساده نظر ددې پیغلو شوق راپاروي څه باک لري؟ له خپل شوقه ولې څه شرم؟

Made with Xodo PDF Reader and Editor


له دې انخوګرۍ د مور و پلار او ماشومان وېره ښايي، په يوه ډول راتلونکي نسل ته هم لاره ومومي.

***

## ۱۱ اکتوبر، ۱۹۲۰ (د ماري له يادښتونو)

ګرانې ماري، فکر کوم دې وخت کې تر ټولو هوښيار کار دا دی چې هغه انځورونه له هغه ځايه ليرې شي. دا مې خوروي چې تاته مې جنجال پيدا کړی دی.
مور هيچا ته د يوه لوڅ بدن خلوص نه شو ورزده کولای، خلک يې بايد خپله کشف کړي. مور نور خلک د ژوند په حقيقت نه شو پوهولای، په دې بايد خپله پوه شي چې د ونې يوازې يو برخه د ځمکې په سر او نوره په ځمکه کې دننه ده. او ولې بايد پردې لندپاري خلک زما او ستا تر منځ تضاد شي؟ هغوی چې څه احساسوي په مور بايد اغېز ونه کړي او زمور لاره کې بايد خنډ نه شي.

***

## ۳ جنوري ۱۹۲۱

ماري، غواړم پوه شم، ايا ته پوهېږې چې د نړۍ په اړه دې زما ادراک څنګه پراخه کړی دی؟ تا تل زه د نويو شيانو کشف ته هڅولی بلکې مجبور کړی يم.
عشق بايد د روانې ويالې غوندې تل په حرکت کې وي او تا هم ماسره همداسې کړي دي. خو له واده وروسته بيا څه کېږي؟ دوی فکر کوي چې اوبه ګنې روانې دي او هېڅ انديښنه يې نه کوي، بيا ژمی راشي او اوبه کنګل شي، دوی بيا هله پوه شي چې په دې ژوند کې هېڅ هم مطلق نه دي تضمين شوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۱۲ اگست، ۱۹۲۱ (د ماري له يادښتونو)

نړۍ يوازې مادي اړخ نه لري، زاړه خلک له ځوانانو لا ډېر ژوندي کېدای شي، ځکه چې تجربه يې لري.
د زوړوالی ستونزه دا ده چې د خلکو ژوند ورځ تر بلې مرگ ته نږدې کېږي او د همدې وېرې له امله خلک له ژونده وېرېږي. دوی په دې نه پوهېږي چې د يو گام کېښودل د بل پورته کول دي. لکه څنگه چې ځواني لښتې ماتېدو ته نه پرېږدې همداسې زړې ونې هم نه پرېږدي چې له طبيعته ووځي.
دغه چارې ته موږ طبيعي نظم وايو. له مرگ وروسته پروسه مې څو ځله انځور کړې ده، د خاورو عناصرو ته بېرته په قلاره ورتگ هغه لوی خلاصون دی چې هر څه په سکوت او ارامتيا بدلوي، دې سره هر څه نوي کېږي. د عمر او بدن زړښت مې دې ته چمتو کوي چې ترې راغلې ځمکې ته بېرته ور ستون شم.
د بدن خزان ژمي ته رسېږي او د نوي سپرلي د ټوکېدو لپاره ژمی مهم دی، همداسې زما اروا هم يو گام پورته کوي او په دې ښه پوهېږي چې هر فصل خپل کيفيت او خپلې ښمگڼتياوې لري.

***

## ۸ دسمبر، ۱۹۲۱

گرانې ماري، هيله لرم چې وکړای شم د تورتم لوی ښار تصور کړم. نيويارک کيدای شي د هرم هومره ښکلی او اغېزناک وی، خو دا کار هله کېده چې يوازې د ستورو او سپوږمۍ په وړانگو کې مو ليدلی وی او بس.
څومره لوی توپير دی په هغه رڼا کې چې له لوړو ليدل کېږي او له ټيټو بلېږي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۱۴/۱۲ جنوري ۱۹۲۲

واده د بخشش او بيا بخشش تر ټولو ښه طريقه ده، خو دا هېڅکله نه شو هېرولای چې انسان له يو بله جلا دی.
له واده مخکې دوره د معجزو دوره وي، په دې کې موږ خپل محبوب ته نږدې کېږو، خبرې ورسره کوو او هر هغه څه زده کوو چې خوشالي او نيکمرغي راکوي، په دې پوهېږو چې دا نيکمرغه لمر بايد څنګه ډوبېدو ته پرې نه ږدو.
موږ د سهارونو، غرمو، مازيګرونو او ماښامونو ستمګر تګ ته دا اجازه نه شو ورکولای چې دغه شېبې دې پای ته ورسوي. که غواړو چې لومړی شور او عشق ژوندی پاتې شي، ځينې شېبې بايد خپله د انسان اړوندې شي، موږ يو هم دومره هوښيار نه يو چې د بل د ژوند اړوند پرېکړه دې وکړو.
يوازې يوه قانون ته پاملرنه بس ده او هغه رښتينولي ده، بيا به نو هر څه د يوه خوب په څېر وي.

***

## ۱۴ جنوري ۱۹۲۲

هر چا کې ښېګڼه ولټوه او ورته يې ووايه. موږ ټول داسې يوه هڅوونکي ته اړ يو، ځوک چې زما کار ستايي زه خاکساره کېږم، ځکه داسې احساس نه کوم چې د چا ګنې نه خوښېږم يا يې نه راپام کېږي.
د نړۍ ټول انسانان داسې څه لري چې بايد پرې وستايل شي. ستاينې د ادارک ځرګندونې دي. موږ په يوازيتوب کې غوره انسانان يو او هېڅوک له بله ښه نه دی، د ګاونډي لويي ليدل زده کړه او بيا خپله لويي وګوره.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۱۲ مارچ، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

د زړه دې ومنه، ځکه زړه دې په هر لوی کار کې ستا رښتينی لارښود دی، زما زړه ډېر محدود دی. موږ چې د څه کولو زړه کوو، له مخکې يې زموږ زړه کې د هغه عنصر په وسيله وړاندوينه شوې وي.

دا ژور احساس، دا انسانيت، دا پوهه، دا د خپلوۍ احساس له هماغه ورځې راپيل شوی چې ته مې په لومړي ځل وليدې او نن هم هماغسې روان دی. يوازې دومره ده چې زرگونه ځله ژور شوي او پُرشوره شوي دي. تاسره به تل مينه کوم، زه درسره له ډېره وخته مينه کوم، آن په ځمکه زموږ له ليدو هم ډېرې مودې مخکې درباندې مئين وم. ما چې ته په لومړي ځل ولېدې هم په دې پوهېدم، همدا قسمت و، موږ به همداسې يو بل سره يو او هېڅ شی مو سره نه شي بېلولای.

***

## ۱۴ اپريل، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

هر ځل چې دوه مئين سره گوري په اصل کې څلور کسان سره خبرې کوي. دوه همدا ليدلي کسان دي چې له دوو ناليدلو هغو جلا اړيکه لري.

بنايي دوه ليدلي يا ليدونکي انسانان يو بل سره په مادي مسايلو تريخ بحث وکړي، خو ارواوې يې په سوله کې وي او هيله لري چې يو بل ته لا نږدې شي.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۵/۲۸ اپریل، ۱۹۲۲

مينې* ته يې روندتوب ډېر عادي او طبيعي دی. دا له هغو لا ډېر احساس کوي چې طبيعي يې بولي، بلکې په لا ډېر خلاص مټ خپل زړه ښکاره کولای شي. څه چې تاته عذاب ښکاري هغه ته يوه معجزه ده.

هغه تل نړۍ په خپل شخصي قلمرو تفسيروي، هغه دا نه مني چې بې ارزښته شی ګنې ارزښت نه لري.

دوی له موږه په جلا نړۍ کې دي، دوی ښايي ددې نړۍ د جوړښت لپاره لا ډېر ښه کاريګر ثابت شي، ځکه ددوی سترګې هغه څه ګوري چې زموږ سترګې يې نه ګوري. ددوی ذهن اسمان په يوه جلا ښه تفسيروي او بېرته يې بيا په خپله ځانګړې طريقه انځوروي.

موږ رڼا نه پنځوو، بلکې د همدې لويې رڼا تت څرکونه يو.

***

## ۵ می ۱۹۲۲

موږ يوازې د ځمکې د ځلا نه بلکې د ژوند د ځلا برخه يو.

موږ له ځمکې دومره نه شو جلا کېدای چې ځان ترې چندانې جلا ووينو. موږ تل ددې له لويو حرکاتو سره حرکت کوو او زموږ وده د ځمکې د لويې ودې يوه برخه ده.

***

## ۹ می، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

ډاکټر سميت وايي چې د زړه دا دومره قوي درزېدل مې هېڅ ستونزه نه لري. يوازې بايد په خپل زړه لږ پام وکړم، ځکه له نړدې شل کالو راهيسې فشار لاندې دی. ويې ويل: کار وکړه، هر څومره کار چې کوې ويې کړه، خو هڅه

Made with Xodo PDF Reader and Editor


مه کوه چې هر څه په يو ځای ختم کړې، د خپلې ټولې ورځ يوازې څلور ساعته وخت کار ته وباسه.
خو دې سره هم زما دا لوی درد بدني نه دی، ما مخکې هم ويلي چې دننه راکې يو څه شته، زه پوهېږم چې شته، خو نه يې شم راويستلی. يو لوی غلی ناست دی او په بدن کې مې يو کوچني کس ته گوري، هغه کس ټول کارونه کوي. زه فکر کوم ډېر څه کولای شم، اوس چې څه کوم دا راته بيخي د خپلې وړتيا په پرتله کاذب ښکاري. ته وا کلونه د يوه بچي په تمه يې او اوس دې هغه ماشوم په زېږېدو کې خنډ کوي، تل کار کوم، خو بيا هم هر څه نه رابرسېره کېږي.
زه غواړم نړۍ ته يو څه وښيم، که مې دا کار له مرگه مخکې ونه کړ بيا به راژوندی کېږم، هر څومره چې اړتيا وي زه به دې نړۍ ته راځم چې دغه کار مې ترسره کړم. ماري پوهېږم چې ته راته تل حېرانوونکې خبرې کوې، خو زه چې ستا خبرې اورم ځورېږم، ځکه ته يوازې هغه څه يادوې چې ما کړي دي او ما چې څه کړي دي په هغو يوازې زه خبر يم.

***

## ۱۹ مې، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

شاعران بايد د سيند سندرې ته غوږ کېږدي.
دا سندره د لرغوني زمانې په ټولو مکتبونو کې شته او چې ورته غوږ شې؛ نو ددې غږونو له منځه بل څه راپورته کېږي. بيا نو ته اورېدونکی کېږې او د نړۍ له مکتبونو يو بل تفسير کوې، دا تفسير له پخوانيو هغو سره لږ توپير لري.
څپې همداسې دي. وگوره کنه څپې څومره په قوت پرمخ ځي او څگونه له ځان سره اخلي او په شگو يې پرېږدي. بيا يوه وړه څپه، له نرم سندريز غږ سره بېرته سمندر ته راستنېږي، بيا يو بله څپه راپورته کېږي او دې څپې سره

Made with Xodo PDF Reader and Editor


یو ځای کېږي. دا څپه ودرېږي، وروسته بیا یوه نوې څپه راپیل شي او دا تګ راتګ تر ابده روان وي.
دا هغه موسیقي ده چې موږ یې زده کړې ته اړ یو، هر څه ځي او راځي، خو موږ د لیدلو سندره او د دښتو د بوټو او د ونو د پاڼو شرار باندې غوږونه نه شو کښولای.

***

## ۳۰ می، ۱۹۲۲ (د ماري له یادښتونو)

د پیغمبر د بخشش په برخې د متن په زیاتولو فکر کوم. د نړۍ ټول خلک د یو څه له بخشش سره علاقه لري او معمولاً هېڅوک یې نه مني. موږ کولای شو یو کور ولرو، خلک یې لیدو ته راوبلو، خلک راځي، موږ چې ورته څه ږدو هغه خوري، نظرونه مې مني، خو هغه مینه نه شي منلای چې ددې بلنې لامل شوې.
عشق داسې شی دی چې لرلو سره یې له بل هر څه ډېره مینه لرو او ددې عشق ورکولو سره هم تر بل هر څه ډېره مینه کوو. خو هېڅوک په دې نه پوهېږي، عشق هماغه شی دی چې خلک یې تل یو بل ته ورکوي، خو منل کېږي نه.

***

## ۱۶ جون، ۱۹۲۲ (د ماري له یادښتونو)

(په دې وروستیو کې د ماري له لیکنو د خلیل روغتیا ته اندېښنه څرګندېږي.)
ماري ته ډېره مهربانه یې، خو دوه خبرې باید هېرې نه شي: لومړۍ نرمي ده، یعنې څه چې پېښېږي خپل مزل ته یې باید پرېږدو او دویمه بیا هغه څه سره وفاداري ده چې هیله یې لرو.
خلک یو بل سره په دې خاطر مینه کوي، چې یا یو بل سره ورته دي او یا

Made with Xodo PDF Reader and Editor


ورسره توپير لري. خلكو ته بې له مرگه بل څه ارزښت نه لري، دوی خپلو مشرانو ته درناوی کاوه او د خپل قبر ته به يې خوارړه وړل. هر څه به يې رښتيا او ساده ليدل، دوی ښه پوهېدل چې نړۍ کې يو شی په بل اوړي، خو بيا هم له نړۍ پاتې نه شول. يو مړی وروست شي، ورژېږي او ونه تـرې جوړه شي، نه پخواني بدوي خلک او نه نور انسانان، يو هم په ښکاره مرگ باور نه لري.

دې ژوند کې ماته خدای ستا له لارې ډېر څه راکړي دي. دا خبره به درتـه خوندوره وي چې ته د خدای د لاسونو غونـدې کار کوې، زه دا لاس پېژنم، لمس کولای يې شم او ماته چې څه راکوي زه يې منم. زما خوښېږي چې د يوه سمندر په څنډه کې د پرتې شگې يوه وړه دانه شم.

خدای دې وساته گرانې ماري، فرښتې دې ملې شه، که پـه څمکه وي او کـه په سمندر کې.

***

## ۱۱ سپتامبر، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

هره مينه د نړۍ تر ټولو ستره او مهمه مينه ده، مينه ډوډۍ يا کلچې تـه ورتـه شی نه دی چې په لويو او وړو برخو يې وويشو، مينـه يـوازې يـوه او سراسري مينه.

د يو چا په اړه داسې ويلی شو چې: هغه کس سره په نړۍ کې تر بـل هـر څـه ډېره مينه لرم، خو څوک چې مئينان دي، په يوه دليل دغه خبره کې ريښـتوني دي.

نو په دې دليل بـې شـکه ويـلای شـم چـې: زمـوږ اړيکه زما د ژونـد تـر ټولو ښاېسته پېښه وه. دا د ټولو خلکو په ژوند کې په زړه پورې تلپاتې شی دی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۳۰ سپتمبر تر ۷ اکتوبر ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

شاعر سره د پېغمبر توپير دا دی، پېغمبر چې خلکو ته څه ورزده کوي، خپله يې زېږوي.
شاعر داسې نه کوي؛ شاعر د مينې په اړه ښه شاعري کولای شي، خو کيدای شي خپل ژوند همداسې بې مينې تېر کړي. که څوک دا ومني چې نه منښړی، بلاخره ترې داسې کس ووځي چې مښېدل به ناشوني وي.
هنر، د هغه شي د تجربې لټون دی چې هر ژوندی يې خوښوي. په ټولو دورو کې مې ښايست سره مينه کړې. يوازې ښايسته شيان ښه نه دي، بلکې هر ښه شی ښکلی دی.

***

## ۷ اکتوبر، ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

ځان لږ لږ ستا مور او پلار احساسوم او ډاډه يم چې ته به هم ورته احساس لرې. يوازې شوي يو ماري. زما ارواه ته رانتوتې يې، اوس که وغواړم چې تا له ځان بېله کړم؛ نو ځان به خپله وران کړم.
دا خپلوي اوس هغه پخوانی نه ده، اوس بې تا ځان د تخليق وړ نه شم ګڼلای. مينه بايد داسې تجربې لپاره ډېره زياته او قوي وي. خو زه چې تاته ځوربدلی يم هغه وخت کې مې دا زده کړي، چې په دې (ګڼلو) کې لا ډېر دقت وکړم.
آن زه فکر کوم که هغه ځوربدل نه وی؛ نن به دا هېڅ هم دومره ښکلي او په زړه پورې نه وی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲٦ او ۲۸ ډسمبر ۱۹۲۲ (د ماري له يادښتونو)

ټول ژوند کې يوازې يم. يوازې داسې يوه ښخه مې وپېژنده چې د فکري او اروايي ازادۍ احساس مې ورسره کاوه او يوازې (زه) ورسره کېدای شوم، هغه ته يې.

د انسان په ژوند کې الهامي شېبه هغه ده چې هغه پکې خپل ژوند ته ځير شي او ټول کاينات د يوې ټوټې قالب کې ويني. د چوپتيا د ستر شور په شېبو کې ډېر خلک ددې الهام په ترلاسه کولو بريالي کېږي.

ما چې څه لټول په تا کې مې وموندل، هغه روح چې زما اروا ته يې الوت ورکړ او په زړو شيانو يې نوې رڼا وشيندله، خپله غېږه يې ماته راوبښله، چې زه پکې سر کېږدم او ارام وکړم. اوس راته له پخوا ډېر نږدې يې او فکر کوم خدای خپله په هغه څه کې ښکاري چې ما او تا يو ځای کوي.

***

## ۲۴ جنوري، ۱۹۲۳

ستا په خوښۍ خوښ يم. خوښي تاته يو ډول ازادي ده او زه چې څومره خلک پېژنم ته به پکې تر ټولو ډېره ازادي لرې، زه په دې باور يم چې تا خوښي او ازادي تا خپله ترلاسه کړې ده. ژوند تا سره يوازې نېکي او مهرباني کولای شي، ځکه تا ژوند سره نيکي او مهرباني کړې ده.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۶/۲۷ مئ ۱۹۲۳ (د ماري له يادښتونو)

واده د بل د غلامولو په معنا نه ده، مګرکه ته هم ځان منښتې تـه چمتـو کـړې. ته چې څه غواړې بل ته يې هم خپلواکي ورکړه. يوازې هغه څه ترلاسه کولای شو چې بل ته يې ورکوو.

هوښيارو خلکو ته د واده بنسټ سوچه ملګري ده، چې خپلو ارمـانونو او د هغـه چا ارمانونو لپـاره پکـې وجنګېـږي، چـې دی ورسره مينـه لـري. کـه دا هيلـې او ارمانونه پکې نه وي، واده به يوازې يوځای دوه‌ی خوړل شي او بس.

دوه سره ورته (يـو ډول) ارواوې نشـته. پـه مينـه او ملګـرۍ کـې دوه کسـان د داسې څه ترلاسه کولو لپاره متې رابډ وهي، چې پـه يـوازې ځـان يـې نـه شي ترلاسه کولای.

د نکاح دا پخوانۍ خبره هسې کم عقلتوب و چې ويل به يې: ښه ته فلانی پـه روغ او ناروغ حالت کې قبلوې... او داسـې نـور. يـو انسان څنګـه بـل انسـان منلای يا قبلولای شي، په دې صورت کې يو وجود ځان څنګ ته کوي، يـا پـه بلـه وينـا پـه دې دواړو کـې يـو کـس د بـل پـر وړانـدې لـه خپلـې پېژنـدګلوۍ تېرېږي.

***

## ۲۳ جون، ۱۹۲۳ (د ماري له يادښتونو)

درد پنځونه کولای شي.

څرګند دې يو او خپله موضوع دې خپله تجزيه او تحليل کړو:

تاته ډېر خوربدلی يم او په تا هم همدا تېر شوي دي. خو ددې پېښې برکت دا دی چې په ځان کې مو ځينې شيان کشف کـړل او پـه دې شـيانو مـو تـر يـوه حده خپله نړۍ وپېژنده.

ځينې انسانان دې پايلې ته رسېږي چې نړۍ کې تر ټولو ښه شی خوښـي ده،

Made with Xodo PDF Reader and Editor


ځینې نور بیا خفګان یادوي، خو زیاتره انسانان دا یو هم په ځان نه لوروي: دا خلک هېڅ شي ته هم نه رسي او یوازې د ژوند له منځه تېرېږي.

د ۱۹۲۳ کال د اکتوبر په دویمه نېټه ماري هسکل د پېغمبر لومړی نسخه ترلاسه کړه. که څه هم مخکینو لیکونو کې یې د جبران بېلابېل اثار ارزولي وو، دده تجزیه او تحلیل تل له مهرباني او متحوا ډک و. خو دا ځل یې په استثنایي توګه په خپله پېغمبرانه طریقه تجربه کړې:

ګرانه خلیله، مبارکي ومنه، مبارکي ومنه، ددې خبرو کولو لپاره او ددې لپاره چې د کایناتو دننیي ژوند ته د یوې څرګندې جلوې په ورننویستلو بریالی شوې. مبارکي ومنه چې دومره د اور، هوا، اوبو او ډېرې انرژي او حوصله لرې. دا کتاب به د ادبیاتو یوه خزانه وي، زموږ اروا چې تیاره وي او وغواړو چې بیا ځلي په ځان کې ځمکه او اسمان ووینو؛ نو دا کتاب به پرانیزو. دا کتاب به ډېرو نسلونو ته ژوندی وي او تل به یې په پاڼو کې هغه څه مومي، چې دوی یې اورېدل غواړي. او هر ځل چې هر څومره انسان خپل ځان لا ډېر درک کوي، دومره به لاپسې د مینې وړ ګرځي.

همداسې به کېږي، ځکه چې یوې سترې مینې - ژوند- دا کتاب لیکلی دی. خلیله ته پوهېږې، ونه کولای شي چې په یوه سپرغۍ وسوځي، یا ځنګل کې په خاورو ولوېږي، خو بیا به هم لمبه ژوند راوړي، ددې لمبې حرارت ته به هغه شیان ځانونه ډېر کړي، چې راتلونکي کې به مینه کوي.

راتلونکي کې به ورسره ډېره مینه وکړي، حتی که بدن یې په ګرد واوړي، په دې کتاب کې به خپله مینه ومومي، ځکه خدای هم ددې کتاب په پاڼو کې راڅرګند شوی دی.

په ډېره مینه، ماري

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۳ نومبر، ۱۹۲۳

**بې تا مې پېغمبر نه شو ليکلای.**
**ژوند راته درې بنه شيان راکړي دي: مور مې چې د سفر اجازه يې راکړه. ته چې په ما او کار مې ايمان لرې او پلار مې، چې په ما کې ويده مبارز يې راويښ کړه.**

***

**له ۱۹۲۳ کال وروسته ماري هسکل د جورجيا ايالات په سوانا ښار کې د فلورنس ميني په کور کې مېشته شوه. خليل به تل د نيويارک او بوستن تر منځ په حرکت و او په ځينو پروژو به يې هم کار کاوه، لکه د پېغمبر ادامه او نندارتونونو ته انځورګري.... بيا يې ويل چې کتاب يې ډېر مشهور شوی او اوس ترې انځوګرۍ ته بېخي وخت نه لري. ماري به خليل ته ليکونه ليکل او په دې ليکلو کې فلورنس ميني سره د ماري هسکل د اړيکې ځرکونه ليدل کېدل، له څه وخت مقاومت وروسته ماري پرېکړه وکړه چې ميني سره واده وکړي او له دې وروسته بيا نيويارک ته لاړه نه شوه، دې سره د ماري او خليل تر منځ ليکونه هم وشيندل شول. جبران له باربارا يانګ سره وپېژندل او قوي اړيکه يې رامنځته شوه. کلونه وروسته باربارا يانګ د (لبناني سړي) کتاب وليکه، چې دده ليکوال په زړه پورې ژوندليک و. د خليل جبران روغتيايي حالت چې تر دې دمه هم ښه نه و، لا په خرابېدو شو.**

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ۲۲ اپریل، ۱۹۲۴

## [د ماري د یادښتونو له (اسماني کاڼي) برخې نه]

ګرانې ماري:

له زړه هیله من یم چې هر څه به ښه روان وي.

زه هغسې یم لکه هر څه چې باید زما تر شاخوا ځنګه روان وي. هره ورځ لږ کار کوم، لږه انځوګري کوم یا په عربي ژبه یو څه لیکم. خو ډېر وخت غونډۍ ته په ختلو یا د سټوډیو خوا کې په ګرځېدلو تېروم، خیال مې پالم او په لیرو پرتو ځایونو فکر کوم، په هغو ګومانونو فکر کوم چې لا هم په لویۍ کې پټ دي او زه یې نه شم درک کولای.

اوس داسې فکر کوم لکه کالبود چې نه لرم، ته وا هغه وریځ یم چې راغلې یم او غواړم ځان په واورې او باران بدل کړم.

ګورې ماري، د ځمکې په لوړه مې ژوند پیل کړی. پخوا یوازې ریښه وم او اوس چې ازاد یم، نه پوهېږم دې دومره هوا، رڼا او فضا سره څه وکړم. د هغو خلکو کیسې مې اورېدلې چې زندان کې سخت ژوند تېروي، بیا چې ځنګه راخلاص شوي دستي یې بل جرم کړی او بیا بندي شوي، دا ځکه چې دې خلکو د ازاد ژوندانه عادت له لاسه ورکړی دی.

ماري خدای دې وکړي چې بیا زندان ته لاړ نه شم، ځکه خدای رښتونی دی او ستا مهربانه زړه یې له خپلې سپېڅلې رڼا ډک کړی دی.

که څه هم رانه لیرې یې، خو هره ورځ له خوب مخکې هغه اسماني کاڼي یو خل لمس کوم چې تا راته راکړی و. په دې توګه له میلونونو کالو لیرو او اوږدو واټونونو خبرېږم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ۲۳ می، ۱۹۲۴

ونې پنډاخې کوي، مارغان سندرې وايي، وابنه لمده بل وهلي وو او ټوله ځمکه ځېلده. بیا ناڅاپه زه خپله ونې، ګلونه، مارغان او وابنه شوم... بیا نو (زه) هېڅ نه وم.

***

## ۵ جون، ۱۹۲۴

ته تر هغه ډېر اورې چې زه یې وایم. ته ماسره هغه ځای ته ځې چې زما خبرې دې هغه ځای ته نه شي راسره ورلای.

***

Made with Xodo PDF Reader and Editor


## ويسټرن يونين

**ټلګرام**

**د غرمې ۱۱:۲۸ بجې - ۱۲ اپريل، ۱۹۳۱ کال.**

**خليل د خالي په شپه مړ شو، تاکل شوې جنازه يې د دوشنبې په ورځ بوسټون ته يوسو. په دې پته ليک وليکئ: ۲۸۱، فارسټ هيلز سرک.**

**ماري جبران**

**ګرانې ماري:**

**ماسره چې دې هره نيکي کړې، ددې لپاره تل خوشاله اوسې. هر ځل به چې دې راسره خبرې کولې په زړه کې به مې يو خوږ درد احساساوه.**

**ته راته تل د غره يوه لوړه څوکه ښيي او وايې: خليل به څه وخت هغه ځای ته ورسېږي؟ او هر ځل چې دا خبره کوې زه له دې خبرې يو بل غږ اورم، چې وايې: زړه مې غواړي چې خليل سبا هغه ځای ته ورسېږي.**

**په دې پوهېدل ښه دي، چې غر لوړه څوکه لري. خو دا باور لا ډېر ښه دی چې ستا مئين به سبا هغه ځای ګوري.**

**زما ژوند د موسيقۍ څوغړونه وو چې ستا په زړه کې سندره شوه، په دې هيله چې د ژوند هره شېبه په ښه سپېڅليتا وکړو.**

**په ټوله مينه**

**خليل**

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د جبران خليل د ژوند کلونه

۱۸۸۳ - جبران د شمالي لبنان د البشراء سيمې په يوه منځنۍ کورنۍ کې وزېږېده، پلار يې خوراکي فروشي لرله او وروسته يې بيا جوارۍ ته مخه کړه. مور يې له لومړي واده د پيټر په نوم زوی لري. جبران او مور يې نږدې او بادرکه اړيکه لرله او همدې اړيکې د جبران هنري رابښکون پياوړی کاوه. وروسته يې بيا کورنۍ کې د ماريانا او سلطانه په نامه دوې لونې ورزياتې شوې.

۱۸۹۵ - د جبران پلار په البشراء کې زنداني شي. کاميلا له لورې وتښتېده او خپلو څلور بچو سره بوسټن ته کډواله شوه. پيټر وکړی شول چې په خپلو هڅو او خلاقيت د ژوند لګښت پيدا کړي او جبران يې زده کړو ته پرېښود. جبران دولس کلن و چې په انځوګرۍ کې يې خپله وړتيا وښوده او انګليسي يې زده کړه.

۱۸۹۶- جبران دنيسون مانۍ ته لاره پيدا کړه، دلته د کډوالو ماشومانو هنري خلاقيتونه هڅېدل. دلته هالندي عکاس سره مخ شو، ده د خليل ملاتړ وکړ او دده په هنر او فکر يې ژور اغېز پرېښود.

۱۸۹۷- جبران وغوښتل چې د عربي تحصيلاتو بشپړولو لپاره بېرته لبنان ته راستون شي او دلته يې د بيروت په الحکمه ښوونيزه موسسه کې زده کړې پيل کړې.

۱۹۰۲ نولس کلن و چې بېرته بوسټن ته ستون شو، هلته يې د ژورفين په نامه يوې ځوانې او روڼ اندې بوسټونۍ شاعرې سره ګوتې خوږې کړې. په همدې کال يې خور سلطانه، ناسکه ورور پيټر او مور کاميلا مړه شول. په دې وخت کې يې يوازينۍ تسلي خور ماريانا او ملګرې ژوزفين وه.

۱۹۰۴- له ماري هسکل سره مخ شو، ماري د يوه امريکايي ښوونځي مشره وه او د اړمنو يتيمانو لاسنيوی يې کاوه. دا ليدنه د يوې تلپاتې ملګرۍ پيل و چې کله مينه ګڼل کېږي. د ماري لپاره جبران خپلې انځورګرۍ ته دوام ورکړ.

Made with Xodo PDF Reader and Editor


۱۹۰۵- جبران په المهاجر مجلې کې د موسيقۍ په اړه ځينې مقالې خپرې کړې. بيا د مجلې مسئول مدير وهڅاوه او د خپلو منثورو شعرونو نشر يې هم پکې پيل کړ، چې وروسته يې په عربي کتابونو (اوښکې او موسکا - توپانونو) کې راټول شوي او د (الهام، توپان او محبوب) په نامه انګليسۍ ته وژباړل شول.

۱۹۰٦ - نيويارک کې يې د (د اروا ناوې) کتاب په عربي ژبه خپور کړ. دغه کتاب په عربو متفکرينو کې د ټولنيزو مسايلو په اړه يو رياليستيک خوځښت راپيدا کړ او ژوزفين هم دې پرېښود.

۱۹۰۸ - کال کې يې په عربي ژبه خپل دويم کتاب (ګناهګاره اروا) خپور کړ. د ۲۵ کالو و چې د ماري په مالي ملاتړ يې پاريس کې د انځورګرۍ زده کړې پيل کړې او د هغه وخت د رايج مکتب سمبوليزم تر اغېز لاندې راغی، دلته يې ډېره موده په موزيمونو او نندارتونونو کې تېره کړه.

۱۹۱۰- بېرته بوسټن ته راستون شو او ماري هسکل سره يې عاطفي اړيکې زور واخيست، خو ماري د قومي ستونزو او ټولنيز موقف ساتلو لپاره دی بېرته واستاوه. جبران د (زرينونو پيوندونو ټولنې) غړی شو، دا په امريکا کې د عرب ليکوالو ټولنه وه او په قاهره کې يې د خپلو نثري شعرونو ټولګه (تر خيال ورهاخوا) په نامه خپره کړه.

۱۹۱۱- په خپل لومړي انګليسي کتاب (ليوني) يې کار پيل کړ، بله ييتس سر يې وکتل، انځور يې ورته وکښل. هغې وستايه او دا چې ډېر ملي ليد يې لاره دا چاره يې دده وغندله.

۱۹۱۲- کې يې (ماتې وزرې) نيويارک کې يوازينی لوړ عربي ناول خپور شو. همدلته يې له مصري روڼ اندې مي زياده سره هم ليکل پيل کړل او بلاخره نيويارک ته کډوال شو.

۱۹۱۳- کې يې کارل ګوستاو يونګ وليد، د هغه څېره يې رسمه کړه او له يونګ فلسفې سره بلد شو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



۱۹۱۴ - په المهاجر کې دده د خپرو شویو منثورو شعرونو ټولګه د (اوښکې او موسکا) تر عنوان لاندې نصیب عریدا په نیویارک کې خپره کړه. د پنځم سرک په مونتروس هنرکور کې ورته نندارتون جوړ او ډېر بریالی شو. تر دې مخکې ډېرو هنرکورونو د جبران له اثارو ځان ساته.

۱۹۱۶- په ۳۳ کلنی کې یې سوریه سره ملي لید او عثماني حکومت سره مخالفت وده وکړه. لوانت قحطي سره مخ شو او جبران نیویارک کې لوړې ځپلو ته مرستې راټولول پیل کړل. د یونګ له یوه شاګرد جیمز اوپنهایم سره بلد شو او د اوه هنرونو په نوم یې یوه هنري چاپي خپرونه پیل کړه، چې دده ځو منثور شعرونه پکې خپاره شول. دې خپرونه کې دده شعرونو سره په ځنګ کې د نورو مشهورو شاعرانو لکه یوجین اونیل، ډي ایچ لارنس، شروود انډرسن، تئودور درایز او نورو... اثار هم خپرېدل.

۱۹۱۷- په پنځم واټ کې د جبران د انځورنو نندارتون پرانستل شو.

۱۹۱۸ کال کې یې (لیونی The madman) کتاب په انګلیسي ژبه خپور شو، چې نوې ادبي بریا یې ترې ترلاسه کړه.

۱۹۱۹ – په عربي ژبه یې غوره قصیده د المواکب په نامه د مرآت الغرب لخوا خپره شوه.

۱۹۲۰ -لربیته القلمیه ټولنې سره یو ځای کېږي او په نیویارک کې عرب لیکوالان سره راټولوي. دې وخت کې خپل پیشرو کتاب خپروي او رابندر نات ټاګور سره ګوري. د لیکوالو په اړه طنزیه لیکنې یې د مصر په سنکدریه کې خپرې شوې.

۱۹۲۳- په دې کال یې د پېغمبر کتاب خپور شو. ساده او تغزلي سبک یې ډېر مشهور شو، له مې زیاده سره یې لیکونو ته دوام ورکړ. ماري هسکل د جورجیا ایالات ساوانای سیمې ته کډواله او په اصل کې د جبران له ژونده ووانه او په دې توګه جبران خپله یوه نږدې ملګرې او ادبي همکاره له لاسه ورکوي. ماري هلته له فلورنس مینیس سره واده کوي او په قاهره کې د توپان

Made with Xodo PDF Reader and Editor


کتاب دویم چاپ خپرېږي.

۱۹۲۵- د سید حسین په بلنه د شرق نوین خپرونې سره همکاري پېلوي او په یوه بده سوداګریزه معامله کې له سخت مالي بحران سره مخ شو.

۱۹۲۷ - په قاهره کې يې (د خیال قلمرو) کتاب خپور شو.

۱۹۲۸ - په دې کال يې عیسی، د انسان زوی کتاب خپور شو. له باربارا یانګ سره يې ولیدل، لیک او انځوګرۍ ته يې دوام ورکړ، روغتیایي وضیعت يې ښه نه و، له منع کولو سره يې بیا هم مې نوشي کوله.

۱۹۳۱ - په مارچ میاشت کې يې د ځمکې خدایان کتاب خپور شو او د اپریل په لسمه نېټه جبران د نیویارک په یوه روغتون کې ساه ورکړه. نیویارک سان مجلې خبر خپور کړ چې (پېغمبر مړ شو). مړی يې دده لبنان ته واستاوه، د جنازې مراسم يې ترسره شول او له بیروته يې البشراء ته مړی ولېږدول شو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



Made with Xodo PDF Reader and Editor

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو
د نورو غوره او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون
درسره وڅارئ . زموږ د ټلیګرام چینل د پیدا کولو لپاره
په سرچ کې په پښتو یا انګلیسي دغه لاندې حروف ولیکئ :

رحماني کتابتون

Rahmani library

زموږ فیسبوک پاڼه

PaktekawalAfghan

یادونه : ملګرو که تاسو نوې کتابونه لرئ او تر اوسه نوې
سکن شوې ، نو سکن یې کړئ او موږ ته یې واستوئ که په هره
ژبه ، او هره برخه کې وې ، تر څو موږ یې له نورو مسلمانانو
سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو .! مینه او مننه
موږ ته یې په دې لاندې نمبر په ټلیګرام کې را واستوئ :

+93 789212634

https://t.me/RahmaniLibrary1
https://t.me/RahmaniLibraryChat